
کبیر ستوری
Kabir Stori
Psychology
ژبساپوهنه
Zabsapohana
Language Psychology
خپرونکی: د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور
Da Pakhtoonkhwa da pohane Dera

کبير ستوری
Kabir Stori

ژبساپوهنه

Zabsapohana
Language Psychology

خپرونکی: د پښتونخوا د پوهنې دېره ، پېښور

ډاکتر کبير ستوری
Dr. Kabir Stori
Kiebitzweg 12
50389 Wesseling
Germany (Deutschland)
www.kabirstori.com
E-Mail: stori@kabirstori.com

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم :	ژبساپوهنه
لیکوال :	ډاکتر کبیر ستوری
خپرونکی :	د پښتونخوا د پوهنی دېره ، پېښور ، پښتونخوا
مهتمم :	ډاکتر محمد فرید بزگر
کمپوز :	نعمت الله رسولي او ملکزی د کور د خپرونو څانگه
د پشتی ډیزاین :	قدرت الله او م. فرید بزگر د کور د خپرونو
شمیر :	۲۰۰۰ ټوکه
د چاپ نیټه :	۲۰۰۰ ع
ډیزاین او چاپ :	د ختیځ د بیا رغونې اداره (کور) د خپرونو څانگه د خپرنی لړۍ ـــ ۲۴

د انټرنیټ په مخ

کمپوز : نسیم خان ستوری

ترتیب : ایمل خان ستوری

تــــــــړون

د رحمت شاه سائل په نوم چې د پــښتني ټــولنې غــړه معنوي پانګه ده او
پــښــتو ژبــې او ادب ته ئې ســتــر خدمــتونه کړي دي



ددي کتاب ليکوال ډاکتر کبير ستوری او ښاغلی رحمت شاه سائل چې دا کتاب ورته
ډالۍ شوی دی

سـريـــزه

مخکې له دې چې د کتاب اصل موضوع ته راشو، د ژبساپوهنې د ليکوونکي لنډه پېژندګلوي به په دې غوره وي چې لوستلونکي پوه شي چې په پښتو ژبه کې د داسې يو ډېر اهم کتاب ليکوونکی څوک دی او ددې څېړنې مقصد ئې څه دی.

ډاکتر کبير ستوری د پېژندګلوۍ محتاج نه دی، نژدې دوستان او ملګري ئې د پښتني خوی بوی څخه پېژني، ليکوالان او د قلم خاوندان ئې په سوچه پښتو ژبه د خپريدونکو کتابونو، مجلو، ورځپاڼو او نورو خپرندويه ليکنو څخه پېژندلی شي، د پښتني سياست په ډګر کې هم دغه ستوری په ټوله پښتونخوا کې ځلېږي. په کونړ کې زيږېدلې ، د کابل په رحمان بابا لېسه کې ئې زده کړه کړې او لوړ تحصيلات ئې په جرمني کې بشپړ کړي، د باچا خان د فلسفې او سياسي غورځنګ لاندې ئې خپل شعور ته وده (تکامل) ورکړې، د خپل وطن او ولس سره بې کچه مينه لري او په جرمني کې د څه نا څه دريو لسيزو راهيسې د پښتو او پښتونولې د پور خلاصولو په هلو ځلو بوخت دی. نو په دې نښتون کې د نورو ډېرو دندو تر څنګ ئې يوه ذمه داري دا هم په غاړه اخستې چې په پښتو به خپل علمي او ادبي اثار ليکي، او نور هم دې ته هڅوي چې په پښتو ژبه ليکل وکړی تر څو د پښتو ژبې پانګه پياوړې او درنه شي چې په دغه سلسله کې ئې دا هم يو ډير اهم کتاب دی.

د ساپوهنې او ژبساپوهنې په رڼا کې ژبه څه ته وايي ؟ او ددې اهميت څه دی؟ هسې خودا ساده غوندې پوښتنې دي، خو ددې شاته د انساني ټولنې د پرمختګ غونډ تاريخ پروت دی چې د نورو عالمانو غوندې ډاکتر کبير ستوري هم په دې موضوع باندې ډيرې څېړنې کړې دي چې يوه برخه ئې دا دې ستاسو لاس کې ده.

ډاکتر کبير ستوری د انساني ټولنې پيل او په هغه کې د ژبې وده په ګوته کوي او بيا د پښتو ژبې ارتقا نه يوازې د لويديز (West) د نامتو پوهانو د کتابونو په رڼا کې څيري بلکې د پښتنو تاريخ پوهانو او ټولنې ژوندي مثالونه هم راوړي. په کتاب کې د ژبې بېل بېل ډولونه او د هغې رواني څېړنه (Psychological Analysis) ډېر په زړه پوري دي، لکه : د ليک ژبه ، ستر او وړوکی ليک ، نرم او ټينګ ليک، کوږ او نېغ ليک، د سور او تال موسيقي ژبه، معياري او پوهنيزه ژبه او همدغه شان ادبي ژبه. د ادبي ژبې په برخه کې لږ ډېر تفصيل د ستوري د ادب سره نژديوالی او رېښتيني انډيوالي ښئ.

د ژبې د پوهې په برخه کې دا کتاب ځینې نورې نوې ځیړنې تر بحث لاندې راولي چې تر اوسه ئې یوازې لویدیز کې کار شوې دي، خو داسې ښکاري چې ډاکتر کبیر ستوری په لومړي ځل په پښتو کې راوستلي دي، لکه: د ژبې د توان او ودې پیمانې، ژبه او ژبنیز استعداد، او ددې د تفصیل ورکولونه پس په عملي توګه هم یو (Memory Test) یادښتي تله ورکړې شوی ده چې د کتاب لوستونکي خپل یادښت پرې ازمویلي شي، خو اوس په دې کتاب کې ددغه پاڼو په لیدلو زما په جرمني کې د سبق هغه وختونه رایاد شول کله چې کبیر خان په دغه ډول ځیړنو بوخت ؤ او هر څوک چې به ئې ګېر کړ، د یادښتي تلې (Memory Test) کتاب به ئې ورته ورکړ او اخر به ورڅخه مونږ ملګری دومره تنګ شول چې ددغه ستورو د ټسټونو څخه علی خان محسود د کبیر خان ستوری د کور نه وتښېد او مونږ هم ورته سکوټ انکار شوو، لوستکونکي دې شکر کوي چې د هغه د زحمت او زیار د غونډې ځیړنې نه ئې فقط څو پاڼې راخیستې دي البته دغه ټیسټونه په هر لحاظ د داسې ځیړنو لپاره ډېر ضروري دي.
لنډه دا چې ډاکتر کبیر ستوری د انساني ټولنې د پر مختګ په رڼا کې د ژبې رول او هغه هم د ټولنیزې ساپوهنې (Social Psychology) غوندې پیچلې موضوع لاندې دومره په آسانه ژبه لیکي چې دا نه یوازې د ساپوهنې مسلکي خلکو لپاره ډیرمهم دي، بلکې د علم سره مینه وال ترې نه هم پوره پند او پوهه حاصلولی شي .
کبیر ستوری تش په نظریو عقیده نه لري. یو عملي انسان دی او همدغه شان نه یوازی د نورو پوهانو تجربو او کتابونو باندې تکیه کوي، بلکې خپله کورنۍ ئې هم تر ځیړنې لاندې نیولې ده چې په دی کتاب کې ئې خپله مثال راوړی، چې هغه د ده لمسیان دي او دهغوی د زېږیدنې نه تر خبرو کولو پورې دومر ئې په بشپړه توګه تر نظر لاندې ساتلي دي او د عملي مثال په توګه ئې وړاندی کوي چې څنګه یو ماشوم د ژوند انه په بېلا بېلو پړاونو کې ژبه زده کوي.
د کتاب یوه برخه د پښتو لیک دود ته ورکړل شوی ده او لیکونکی ډېر په ډاډ سره وائې چې پښتو ژبې توان (ظرفیت) د انګرېزي او جرمني ژبو نه زیات دی یانې د ودې ډېر قابلیت لري خو ولې په دې برخه کې پښتو ژبې ته کار نه دی شوی.

په بل ځای کې لیکي چې پښتو یوه ډېره توان منه ژبه ده چې ډډ ئې غټ دی او ډېر څه په کې ځائیږي، په دغه لړ کې د پښتو سوچه ژبې کولو له پاره هم لاربښونه شوې ده، د پښتو او پښتونولۍ په نښتون کې که یو خوا کره څېړنې شوي نو بل اړخ ته د پښتونولۍ ستر (Institution) جرګه باندې د لوېدیز پوهانو له پلوه ژوره کتنه تر بحث لاندې راغلې ده چې په نتیجه کې پښتونولي د جرګو یو ولسي سیستم (نظام) بلل کیږي کوم چې ډیموکراتیک (جمهوری) خوی لري اوس هم د پښتنو په ټولنه کې ژورې جرړې لري خو مهمه دا ده چې د جرګې دا غیزو خبرې په داسې وخت کې کېږي چې افغانستان د اوسنۍ ربړې د سوله ایزه حل لټولو لاره په کې موندلی کیدی شي. که څه هم کله کله کبیر ستوری ډېر احساساتي (جذباتي) شوی دی او لیکي چې پښتانه او پښتونولي کلک تړون لري، خپلې د ژوند چارې د جرګو د لارې سموي، پښتونولي ځان ژغورونکی خوی لري او بهر نه په ځان کې ګوتې وهنه نه مني، ددې خبرې علت د پښتونولۍ په بشپړوالي (مکمل توب) کې پروت دی، چې د پښتنو د ژوند ټولی ربړې او چارې په خپله سمبالولې شي او د بهر مرستې ته اړتیا نه لري. نو په دی هکله د ډاکتر صیب دغه نظریې باندې پوره بحث کیدلی شي، چې ایا اوس وخت کې هم دا عملي کیدلی شي او ایا پښتانه هم هغه شان دي لکه څنګه ئې چې ستوری صیب ویني؟

په کتاب کې د پښتنو نسل او نسب ته هم ډېر ځای ورکړی شوی دی او زه پخپله د ډاکتر کبیر خان ستوری دغه خبرې سره پوره اتفاق لرم چې د پښتنو اکثره پوهانو او څېړونکو خپله هڅو ځان نه دی کړولی چې خپل ځان وپیژنې او د بهرنو متضادې نظریې بیا بیا راخیستی دي، خو د ساینس او یویشتمې پیړۍ ، نوو پوهنو په رڼا کې خو به دا څه دومره ګرانه هم نه وي چې موږ دا معلومه کړی شو چې موږ څوک یو؟ خو په ډېرو نظریو کې یوه دا چې پښتانه بني اسرائیل دي، دا سې ښکاري چې ډېر ژر به دا خبره رڼا ته راشي، ځکه چې د ځینې معلوماتو سره سم اسرائیلي څېړونکې ادارې په دې بوختې دي چې خپله یوه ورکه قبیله راپیدا کړي او په دی لړ کې دا ویل کېږي چې هغه ورکه قبیله پښتانه دي. په دې کې څومره حقیقت دی او دا به څنګه په ثبوت رسېږي؟ نو نه خو تر اوسه موږ په دغه شان څېزونو ځان خوړلی دی او نه په نژدې راتلونکی کې ددې څه نښې نښانې ښکاري، خو اسرائیلیان به ئې هرومرو یو پلو ته کړي.

په دې کتاب کې د ژبه او قام یا ولس تر عنوان لاندې هم ډېر څه لیکل شوي دي او څېړونکې دغه نتیجې ته رسېږي چې پښتانه خپل جغرافیایې وحدت (وطن، ټاټوبی) ته پښتونخوا او خپل ځان ته پښتون ویلی دی که څه هم پښتانه په دوو هیوادونو کې اوسېږي خو د دوی تر مینځه قامي اړیکې شلیدلي نه دي.

ډاکټر ستوری د پښتنو د قامي وحدت د بیا بشپړتیا او راژوندي کیدلو نظریه د باچا خان تر مشری لاندې د خدایي خدمتګارانو د غورځنګ په انځور کې ویني او پیرنګې د ښکاره دښمن په څېر د یادولو تر څنګ د افغانستان د پخوانې باچا ظاهر شاه څلوېښت کلنه دوره د پټ دښمن په توګه په ګوته کوي چې نسلي خو پښتون دی خو نه په پښتو ژبه پوهېږي او نه خو د پښتني کولتور په خوی بوی خبر دی او د خپلې ژبې او کولتور څخه باالکل پردی شوي.

ستوری دا په څرګنده وایې چې د پاکستان د جوړېدو نه پس سمه لار خو دا وه چې افغانستان او پاکستان یو بل ته نژدې شوې وای خو ظاهر شاه دوه مخی سیاست پېل کړ د یوې خوا ئې د پښتنو ویش ومانه او په پاکستان کې ئې سفارت او قونسلګري جوړه کړه او له بلې خوا ئې ورسره دښمني را واخیسته د ظاهر شاه د حکومت له خو په افغانستان کې د پښتنو په ضد اقدامات هم په ګوته کېږي.په کتاب کې د پښتنو د یووالي په هکله د پوره بحث نه پس لیکونکی دغه خبره په ثبوت رسوي چې د یو والي یا وحدت د فلسفي بنسټ په نژدیوالي ولاړ دی او د (Globalisation) د نظریې په رڼا کې پاکستان او افغانستان ته هم نژدی ګډ کار په کار دی چې دا په اقتصادي، سیاسي، کولتوري، ادبي او د ژوند په نورو برخو کې مینځ ته راتلای شي، خوتر ټولو مهم په اقتصادي او تجارتي برخه کې ګډ کار دی. دا د تګ راتګ آسانتیاوي او (Double Nationality) شهریت ورکولو په څیر هم کېدې شي.

ډاکټر ستوری په کتاب کې د پښتنو مشرانو د یووالي د لړ هلې ځلې ستایلي دي اوښاغلی محمدافضل خان لالا د روان کال د نومبر د میاشتې د جرګې جوړول ئې د پښتون قام د یووالي یو مهم ګام بللی دی، او هم ئې د پښتو د دوهم عالمي کانفرنس د جوړېدو تائید او مرسته کړې او په دې لړ کې ددغه کانفرنس د چیرمین ښاغلی سلیم راز، او ښاغلی انورزیب او نورو منتظیمینود کوښښونو ستاینه کړیده.

په پای کې دا هم باید وویل شي چې په کتاب کې ځینې نومونه بل ډول لیکل او یا املائي غلطي د کتاب په بیره د لیکو او ژر خلکو ته د رسولو په وجه شوې کوم چې وروسته اصلاح کیدی شي، زه د ډاکتر کبیر ستوري دی ستر خدمت ته په ډیره درنه سترګه ګورم چې د پښتو ژبې او قام له پاره ئې د یو ډېر مهم کتاب پېرزوینه کړی ده.

ډاکتر شاه جهان

د پېښور یونیورسټۍ

د ژورنالیزم د ډیپارټمنټ مشر (چېرمین)

د ژبساپوهنې پېژندګلوي

د ساپوهنې په رڼا کې د ژبې څېړلو ته ژبساپوهنه وايي. ژبه د ساپوهنې يوه په زړه پورې موضوع ده او د ساپوهنې ډېرې څانګې د ژبې سره سر او کار لري او هره څانګه ئې پخپلو لارو او ميتودونو (Methode) سره د ژبې مختلف اړخونه راسپړي. په دې کتاب کې ما د ټولنيزې ساپوهنې (Social psychology)، د سياسي ساپوهنې (Political psychology) ، د ادب د ساپوهنې (Literature psychology) ، د ښوونې او روزنې د ساپوهنې (Educational psychology) ، د ژورې يا راسپړيدلو د ساپوهنې (Psychoanalyse) ، د کړنې د ساپوهنې (Applied Psychologie) او د حقوقي ساپوهنې (Forensic Psychologie) د لارو (ميتودونو) په مرسته سره د پښتنې ټولنې په ښتون کې د ژبې مختلف اړخونه راسپړلي او څيړلي دي چيرته چې د بل چا نظريه راخستل شوي او يا حواله پرې ورکړشوې ده هغه په ليندېو کې د ليکوال د نوم او د کتاب د کال په ليکلو سره په ښه شوې دي چې په اخستونځو کې بيا په بشپړه توګه په ګوته شوی دی.

انسان او ژبه

ژبه په انساني ژوند کې مهم رول لوبوي ځيني څېړونکي د ژبې په واسطه انسان د ژوی (حيوان) څخه بېلوي او ورته خبرې کوونکی ژوی (ناطق حېوان) وايي خو ځيني نور څېړونکي بيا په دې عقيده دي چې ژوي هم يو ډول غږونه کولی شي او د مخابرې يو سېستم لري چې سړی ورته ژبه يا د ژبې يوه خاصه بڼه ويلی شي. خو واقعيت داسې دی چې د ژبې مرکز په لوی دماغ کې دی چې په ژبې د پوهيدلو او کنټرول دنده په غاړه لري د زيږېدو په وخت کې د انسان د دماغ يوازې ځلورمه برخه يانې په سلو کې پنځه ويشت (۲۵ ٪) وده کړې وی او پنځه اويا (۷۵ ٪) بيا وروسته وده کوي حال دا چې د ژوو دماغ په سلو کې د پنځه شپېتو (۶۵ ٪) څخه زيات د زيږېدو په وخت کې بشپړ وي (Merz, 1977).

لوی دماغ يا ماغزه په دوو برخو وېشل شوي دی چې يوه ئې کيڼه (ګڅه) برخه ده او بله ئې ښې برخه ده.



لوی دماغ (دماغ اکبر) (Rohracher, 1965)

د نور څېړونو په نتيجه کې ثابته شوې ده چې د ښي لاس کسانو په سلو کې نوي (۹۰ ٪) او د کيڼ لاس کسانو په سلو کې شپېتو (۶۰ ٪) د ژبې مرکز د لوی د ماغ په کيڼه (ګڅه ،چپه) برخه کې دی (Rohracher,1965).

په دې توګه سړی ویلی شي چې د اکثرو انسانانو د ژبې مرکز د لوی دماغ په کېڼه (ګڅه) برخه کې دی. د غږونو د ژبې دستګاه تالو دی چې د غږونو پېژندنه لري او د ژبې د عضلې او شونډو په مرسته سره غږونه جوړوي که د ژبې مرکز ته په لوی دماغ کې تاوان او ټکان ورسېږي نو بیا په ژبه کې هم خنډ پېښېږي او ژبه نښلي او یا د خبرو څخه بالکل پریوزي او سړي ګونګیږي که څه هم د تالو د غږ پېژنې ئې جوړې وي دا سې هم کیدلی شي چې د ژبې مرکز په لوی دماغ کې جوړ وی خو د تالو دغږ پېژنې خرابې شوې وي په دې حالت کې هم په خبرو کې خنډ راځي دانسانانو د تالو د غږونو په پېژنیو کې د پرتو غږونوشمیر زیات او پراخه دی او مختلف ډول غږونه جوړولی شي، خو د ژووو (حیواناتو) د تالو د غږونو شمیر ډیر کم دی او یوازې څو محدود غږونه کولی شي. ددې پورتنیو ټکو څخه دا نتیجه په لاس راځي چې د انسان ژبه د غږونو د شمیر(د کمیت) له پلوه بډای او بشپړه ده او د ژوو بیا نیمګړې اوغریبه ده .په دومره اندازه سره ژبه دانسان او ژوي د توپیر نښه ګڼل کیدلی شي چې انسان په ډېره پیمانه او ژوي په لږه پېمانه د خبرو کولو توان لري. دغـږ ژبه یا ګړیدنه د وزن له مخې په څلورو برخو کې جوړه شوې ده چې هره ټیټه برخه ئې د خپلې جګې برخې ځانګه ده.

ګړ : ګړد ګړیدنې تر ټولو کوچنۍ برخه ده پښتانه وائې چې پلانکی سړی ما ته ګړ هم نه شي کولی. یانې هیڅ راته ویلی نه شي. ربښتیا چې ګړ ځانته او ګوښې هیڅ دی او هیڅ مانا لرلی نه شي خو ګړونه که په یوه ټاکلې ګړندیوالی (سرعت) یو د بل پسې راشي نو بیا غږ جوړوي.
د ګړونو مجموعی ته چې د غږ په ټاکلې ګړند یوالي (سرعت) سره نه وي غورریدنه وایې چې د ژبې مخکنۍ بڼه ده.

څپه (سیلاب): څپه کم نا کمه د دوه ګړونو څخه د ټاکلې ګړندیوالی په بنسټ جوړ شوی غږ دی لکه غر، کب، ور او داسې نور... د څپې (سیلاب) څخه د شعر د وزن د اندازه کولو له پاره هم کار اخستل کېږي.

نومونه یا ویي (لفضونه): نومونه یا ویي د یو یا څو سیلابو څخه جوړ شوي غږونه دي.

جملې : جملې د څو نومونو یا لفظونو څخه جوړ شوي غږونه دي.

د ژبې مینځ ته راتګ: د ژبې مینځ ته راتګ د انګلیسي پوهان اویلنیګ (Aveling) او د الماني (جرمني) پوهان اخ (Ach) د نومونو یا ګړنې (اصطلاح) د جوړولو د تجربو په مرسته انځور کیدلی شي.

داویلنیګ او اخ تجربی: ددې تجروبو موضوع هغه لړۍ ده په کومه کې چې یو بې مانا لفظ یوه مانا پیدا کړه یانې د یو شي (څیز) نوم وګرزیده. اویلنیګ (Aveling) بې مانا ویي (لفظونه) د انځورونو او شیانو سره ونښلول او خپلو زده کوونکو ته ئې څو ځله وښودل په پای کې دغه بې مانا ویي (لفظونه) د دغه شیانو او انځورونو (رسمونو) نومونه وګرزیدل او مانا ئې پیدا کړه اخ (Ach) هم په همدی ډول د هندسوي جسمونو څخه کار واخست.
ده د پېړو کاغذونو نه مربع، استوانه او مخروط جوړ کړ چې مختلف لوي والی او وزن یې درلود. یوه غټه او درنه مربع یوه غټه او سپکه مربع ، یوه وړوکې او درنه مربع، یوه وړوکې او سپکه مربع یانې څلور ډوله مربع ګانې جوړې کړې.
همدغه شان څلور ډوله استوانی او مخروطونه ئې هم جوړ کړل بیا ئې په ټولو غټو او درنو جسمونو ، غټو او سپکو جسمونو ، په کوچنیو او درنو جسمونو ، په کوچنیو او سپکو جسمونو د بی مانا ویي (لفظونه) ونښلول د تجربی کسان مجبور و چې هر یو جسم په لاس کې جګ کړي او ور پوری نښلول شوی بی مانا (لفظ) ولولي بیا دغه جسمونو څخه نښلول شوي ویي (لفظونه) لرې کېدل او جسمونه بیا د میز په سر ایښودل کېدل او د تجربو د کسانو څخه د دې غوښتنه کېدله چې یو ټاکلی جسم وګوري په دی لړ کې څرګنده شوه چې دغه ویي (لفظونه) چې پخوا بې مانا ؤ اوس مانا پېدا کړې ده او نومونه ګرزیدلي دي (Rohracher,1965)
د اخ (Ach) ددې تجربې څخه جوتېږي چې بې مانا ویي (لفظونه) یا غږونه مانا پېدا کوي کله چې د یوه شي پورې وتړل شي. ددې تجربو په پایله (نتیجه) کې سړی ویلی شي چې انسان د ژوو (حیواناتو) په پرتله د ډېرو او مختلفو غږونو توان لري خو دې غږونو په لومړي سر کې هیڅ مانا نه ورکوله خو کله چې د یو شي د ستاینو (صفتونو) پوری وتړل شو نو بیا ئې مانا پېدا کړه دا ترڼه د رایادیو د قانونو (Assoziationgesetze) په بنسټ کېږي چې د زده کړې د نظریې الف با ګڼل کېږي دا قانونونه لومړی ارستو (Aristoteles) را په ګوته کړل چې وروسته ئې پراختیا و مونده چې مهم ئې دا دي.

د ځای او دوخت پیوستون قانون : که چیرته سړی دوه یا زیات شیان په یوه وخت او یا یوه ځای کې ووینې نو کله چې د دغه شیانو څخه یو رایاد شي نو بل ئې هم رایادېږي.

د ورته والي قانون : که چیرته دوه شیان یو بل ته ورته وي د یوه را یادېدل ډېر وخت د بل د رایا دېدو سبب کېږي.

د سمت او برخې قانون : کله چې د یوه شي برخه رایاده شي نو ټول سمت ئې رایادېږي.

د تضاد قانون: کله چې د تضاد يو اړخ راياد شي نو ډير وخت ئې بل اړخ هم رايادېږي. د غږ د ژبې په مينځ ته راتګ کې د ځای او د وخت د پيوستون قانون کره رول لوبوي يانې ددې قانون په مرسته سره انسانانو بېل بېل بې مانا غږونه د بېلو بېلو شيانو سره ونښلول مانا ئې پېدا کړه او نومونه وګرزېدل چې په نتيجه کې ئې ژبه مينځ ته راغله.

د بېلو بېلو ژبو مينځ ته راتګ: د بېلو بېلو ژبو مينځ ته راتګ د يوه شي (څيز) سره د ډېرو غږونو د يو ځای کولو او جوړه کولو څخه بل شي نه دی يانې دهمدغه يو شي (څيز) سره بېل بېل غږونه ونښلول کېږي چې ټول ئې يو شانته مانا پيدا کوي. د مثال په توګه کله چې يو پښتون يو بوټي ليدلی دی نو د ونې غږ ئې ورسره جوړه کړی دی. په همدغه شان جرمنيان بيا د همدغه بوټي سره د باوم (Baum) او انګرېزانو د ټري (Tree) غږ جوړه کړی دی. کله چې يو پښتون د ونې نوم واوري نو د ونې بوټی ئې په ياد راځي همدا خبره د جرمنيانو د پاره چې د باوم (Baum) او د انګريزانو د پاره چې د ټری (Tree) غږ واوري اعتبار لري. تر هغه وخته چې يو انګرېز په دې پوه نه شي چې پښتانه ټري (Tree) ته ونه وايې نو د ونې غږ د انګريز د پاره بې مانا دی. همدغه د ټري (Tree) غږ د يوه پښتون د پاره بې مانا دی تر هغه پورې چې په دې پوه نه وي چې انګرېزان ئې ونې ته وايې.

لنډه دا چې د يوه شي سره د بېلو بېلو سېمو د انسانانو له خوا دبېلو بېلو غږونو يو ځای کول مونږ ته د بېلو بېلو ژبو مينځ ته راتګ راپه ګوته کوي. دلته دا پوښتنه راپيدا کېږي چې په يوه ژبه کې هم ځنې داسې شيان شته دی چې بېل بېل غږونه ورپورې تړلي وي يانې مختلف نومونه لري خو يوه مانا ورکوي لکه ګټه ، تېګه، ډبره او يا دروازه ، ور، دړه ، تمبه او داسې نور...

ددی پوښتنې په ځواب کې سړی ويلی شي چې په يوه شي پورې د بېلو بېلو غږونو تړل د چم ګاونډ او چاپيريال د مختلفوالي محصول دی. کله چې د يو شمير وګړو چاپيريال د نورو څخه بېل وي او دبلی سېمې د وګړو سره ئې تماس او اړيکی نه وي نو بيا دغلته ځانته ژبه مينځ ته راځي او که د نورو سېمو د وګړو سره ئې تماس او اړيکې وي نو بيا په دغه سېمه کې ځانته ژبه مينځ ته نه راځي بلکې يوازې د ځينو شيانو د پاره خپل نومونه لري.

که د ټولني لرغوني تاريخ ته ځير شو نو وبه وينو چې په لومړي سر کې انسانان د وينې د خپلوۍ په بنياد ډلې ډلې په ګوښو ، ګوښو سېمو کې به داسې ځايونو او رغو کې اوسېدل چې اوبه به ئې لرلې او په دې توګه ئې خپلې بنسټي اړتياوې پوره کولې خو کله چې به په يوه سيمه کې د يوې ډلې شمير زيات شو او يا به د کوم بل علت له کبله د دوی بنسټی اړتياوې په بشپړه توګه پوره کيدلی نه شوې نو بيا به د شاو خوا داسې شنو ځايونو ته ترې لاړل چې له يوې خوا به ئې ددغه ځای د وګړو سره شريک تماس او راشه درشه لرله او دبلې خوا به ئې بنسټي اړتياوې پوره وې.

کله نا کله چې به نژدې زرغونې سیمې نه وي نو لیرې سیمو ته به لاړل او د پاتې برخې سره به ئې تماس پرې کړ شو. کله نا کله به د زرغونې سیمې د نیولو له پاره د وینې یوې ډلې د وینې په بله ډله وګړو یرغلونه هم کول. زموږ پښتنو لپاره دا لومړۍ خبره اعتبار لري چې یو بل ته نژدې په مختلفو درو کې خپاره او میشته شوي دي چې یو پیدا ښتي جغرافیایي وحدت دی او یو له بل سره ئې تماس او اړیکې ساتل شوي دي. له دې کبله په بېلو بېلو درو کې بېلې بېلې ژبې مینځ ته نه دي راغلي خو د ځینو شیانو سره مختلف غږونه تړل شوي دي او په دې توګه د یوه شي لپاره دوه او یا زیات نومونه مینځ ته راغلي دي خو د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو د بېلو بېلو ټبرونو په مینځ کې د تګ راتګ د وسایلو د ښه کېدلو له کبله اړیکې او تماس لاپسې غښتلی شوی دی او په دې ترڅ کې د یوه شي له پاره ډېر نومونه چې د پښتنو په بېلو بېلو درو کې پیدا شوي دي ټولو پښتنو زده کړي دي او یو د بل په خبرو ښه پوهیږي. ګټه، ډېره او تیره ټول پښتانه پېژني، چې د یو شي (څیز) نوم دی. اوس به دې خبرې ته راشو چې د بېلو بېلو شیانو پورې چې یو د بل سره ورته والی او یا اړیکې ولري یو غږ هم تړل کېدلی شي چې په دې حالت کې ټولیز (عمومي) نوم جوړیږي. د بیلګې په توګه « ونه » چې د زیات شمیر بوټو نوم دی لکه خوبانی ، بټنګ، ناشپاتی، الوچه، توت، غوز او داسې نور...

لنډه دا چې د ډیرو شیانو سره یو غږ او ډېر غږونه د یوه شي سره تړل کیدلی شي. خو څنګه چې د انسان ژبه د زده کړې په لړۍ (سلسله) ولاړه ده او زده کړه تل د اسان څیز څخه د پیچلې خوا ته وي نو داسې اټکل سرې کولی شي چې زیات شمیر یو څپیز (یو سیلابه) او یا دوه څپیزه نومونه په ژبه کې لومړی او ډیر څپیزه نومونه او جملې وروسته منځ ته راغلي دي. همدغسې ټولیز (عمومي) نومونه لکه ژوی (حیوان) لومړی او د بېلو بېلو ژوو نومونه لکه پړانګ، ګیدړ، زمری، غویی او داسې نور... بیا ورسته منځ ته راغلي بریښي.

دا هم پکار ده چې وویل شي چې انسان د ډیرو او مختلفو غږونو توان لري نسبت هغې ته چې په یوه ژبه کې پکاریږي. همدا سبب دی چې انسان د ډیرو ژبو د زده کړې توان لري او د نورو ژبو غږونه هم وښکدلی او یادولې شي. د ځینو لرغونو ژبو لکه اندوګرمان (Indogerman) او سېمېټ (Semit) ژبو پېدا ښېت د میلاد څخه درې یا څلور زره کاله د مخه اټکل کیږي د هغه ژبو چې پخوا پرې یو ځل خبرې کېدلې او د هغه ژبو چې اوس پرې هم خبرې کېږي شمیر د پنځه ویشت زرو (۲۵۰۰۰) څخه تر پنځه دیرشت زره (۳۵۰۰۰) پورې رسېږي (Mayer;1980,BD7) .

بې غږه ژبه یا د جسماني اشارو او حرکتونو ژبه

داسې برېښي چې دا ژبه د انساني ژبې لومړنۍ او پخوانۍ څېره ده ځکه کله چې دوه کسان د یو بل په خبرو نه پوهېږي نو د جسماني اشارو څخه کار اخلي چې یو بل په خپل فکر، اراده او احساساتو پوه کړي. کېدای شي چې انسانانو تر ټولو لومړۍ ددی ژبې څخه کار اخسته خو څنګه چې د جسماني اشارو او حرکتو نو شمیر لکه د ژوو د غږونو په شان کم دي نو ژبې ددې بنې ارزښت او اهمیت ئې راټیټ کړی دی که څه هم نن ورځ په صنعتي هیوادونو کې د کڼو او ګونګیانو لپاره د جسماني اشاروو یوه اندازه بشپړه ژبه شته دی.

د لیک ژبه

د لیک ژبه د غږیدو د ژبې څخه وروسته منځ ته راغلې ده. د لیک د ژبې تر ټولو پخوانۍ بڼه انځوري لیک دی چې د میلاد څخه لس زره کاله د مخه اټکل کېږي په دې لیک کې د ټا کلي ویي (لغات) له پاره یو ټاکلی انځور (تصویر) و. بیا ورسته انځور د ویي (لغات) د مانا څخه ناپېلی شو او د ویي د څپو (سیلابونو) پورې وتړل شو یانې د ویي (لغات) هر سیلاب ته یو انځور (تصویر) ونیول شو. په دې توګه د سیلابونو یو سیستم منځ ته راغی. ددی ګټه دا وه چې هماغه یو انځور به په مختلفو وییو (لفظونو) کې استعمالیده چې یو شانته سیلاب به ئې درلود. د دی ډول انځوري لیکونو بېلګې سومیری (Sumere) لیک دی چې له میلاد څخه دری نیم زره کاله د مخه اټکل کیږي، د مصر هیروغلیفي (Hieroglyphe) لیک چې له میلاد څخه دوه زره نهه سوه کاله د مخه اټکل کېږي، مېخي لیک، پونیځي (Phonizie) لیک او چیني لیک دی.
د تورو (حروفو) لیک له میلاد څخه زر کاله د مخه دانځوري لیکونو د ودی په نتیجه کې منځ ته راغلی چې یو ډول د ګړونو سیستم دی یانې هر ګړ ته چې د سیلاب یوه برخه ده یو توری نیول شوی دی بیا دغه لیک ایټالویانو واخست اونوره وده ئې ورکړه اولاتیني لیک تري منځ ته راغی چې نن ورځ یو زیات شمیر هیوادونو په لږ تغیر سره خپل ګرزولي دي یانې د هغه ګړونو له پاره چې د لاتیني ژبې په تورو کې نه و خپل توري ئې جوړ کړي یو یا دوه یا زیات توري ئې د یوه ګړ له پاره نیولي دي(Duden, Bd3, 1962).
لنډه دا چې هره یوه د غږ ژبه د ټاکلي شمیر ګړونو څخه کار اخلي چې د غږ تر ټولو کوچنۍ برخه ده نو د لیک د ژبې لپاره هم همدغه «ګړ» تاداو ګرزول شویدی. د لیک ژبې د ودی په نتیجه کې د هر یو ګړ له پاره یو توری (حروف) نیول شویدې په دی توګه د غږ ژبه د لیک په ژبه اړول شوې ده او د لیک ژبه بیرته په غږ ژبه اړول کیدلي شي. په نړۍ کې اوس هم داسې ژبې شته چې خبرې پرې کیږي خو لا د لیک ژبې نه دی ګرزیدلي لکه په بره پښتونخوا کې نورستاني ژبه خو په صنعتي هیوادونو کې د ړندو له پاره هم یو خاص ډول لیک شته دی چې ړانده ئې په لیک د ګوتو ګرزولو په واسطه لوستلي شي.

لاسي لیک او سړیتوب (Personality)

یوازې د غږ ژبه د ساوالو (روحي) لړونو سره اړیکي نه لري بلکې د لیک ژبه هم د لیک مانا په ښودنه (Graphology) کې (د لیک چې په لاس لیکل شوی وي) د ټاکلو ښنو ښنانو له لیاري د سړیتوب (Personality) ټاکلي لړونه راپه ګوته کوي. ددغه ښنو ښنانو څېنې مهمې دا دي.

کوچنی او غټ لیک: کوچنی لیک د بې ډاډۍ ، د احتیاط ، د کموالي د احساس، د شوموالي او په ځان باندې د باور نه لرلو مانا ورکوي. غټ لیک بیا د بیدارۍ ، سخیتوب، لرۍ لید او په ځان د باور مانا لري.

نرم او ټینګ لیک: د لیک د ټینګوالي او نرم والي د معلومولو اسانه لاره دا ده چې ټینګ لیک د عادی کاغذ شاته خاپونه پریږدي او دلیک کرښې او خاپونه د لیک د پاڼې تر شا ښکاري ، نرم لیکل شوې لیک بیا د کاغذ تر شا خاپونه نه پریږدي. ټینګ لیک د ډیرې انژرۍ، ژوندیتوب او کلکې ارادې او خپلې ارادې ته د عمل د جامو اغوستلو د توان مانا لري نرم لیک د احتیاط، نرمۍ او غاړې ایښودلو (تسلمېدلو) مانا لري.

کوږ او نیغ لیک: ښي اړخ ته د لیک کوږوالي بهرنیز خویه (ExtrovertiertenTyp) انسان مانا لري او کیڼې خواته د لیک کوږوالې د ننیز خویه (Introvertierten Typ) انسان موږ ته را په ګوته کوي. نیغ لیک چې نه ښي اړخ ته کوږ وي او نه کیڼ اړخ ته کوږ وي او سیخ پور ته ولاړ وي د دننیز او بهر نیز خویه (Ambiaqual) انسان ښنه ده. بهرنیز خویه (Extrovertieten Typ) د بهر و خواته میلان لري،ټولنیز او ډله ایزوي یانې د ډلې او د وګړو سره تماس ئې خوښېږي او دټولنې سره د سمون توان لري او ژر د اغیزیې لاندې راتللې شي.
د ننیز خویه (Introvertierten) انسان بیا د دننه خواته میلان لري. ګوښه ایز، ځانګړی او خود پرسته وي او د تخیل (Phantasie) له پلوه غښتلی او بډای وي د ننیز او بهرنیز خویه (Ambiaqual)انسان بیا هم ګوښه ایز او هم ټولنیز وي. ددې ډول انسانانو توازن او انډول برابر وي (Koch,1957, Graser,1970) .

دلته په کار دي چې دا هم وویل شي چې د لیک مانا د ښودنې (ګرافولوژي) دغه دوه لومړۍ نښې (کوچنی او غټ لیک ، نرم او ټینګ لیک) د پښتو پر لاس لیکل شوي لیک لپاره پوره اعتبار لري خو دغه دریمه نښه (کوږ او نیغ لیک) څیړنې ته اړتیا لري ځکه چې د پښتو لیک د ښي څخه د کیڼ خواته لیکل کیږي او د لیک مانا د ښودنې (ګرافولوژي) څیړنې د اروپایي هیوادونو په لاس لیکونو چې د کیڼې څخه ښی خواته لیکل کیږي شوي دي . که څه هم دا واقعیت د څیړنې د اړتیا لپاره خبرې نه کوي چې اکثره انسانان په ښي لاس لیکل کوي او هم ئې د ژبې مرکز د دماغ یا مغزو په کیڼه خوا کې دی او په دې برخه کې د مختلفو هیوادونو د وګړو په منځ کې توپیر نه شته دی.

د سور او تال یا موسیقي ژبه

موسیقي هم د ژبې یوه بڼه ده. دا ژبه د « سور» او « تال » (Rhythm) څخه جوړه شوې ده. « سور» د برابروالي مانا لري د بیلګې په توګه کله چې د سیتار د پنځو تارونو غږونه یو له بل سره برابر شي نو مونږ وایو چې « سور » شو. د سور د لفظ پوله یوازې د موسیقي په الو پورې تنګه نه ده بلکې په نورو نښتونونو کې همه پکارول کېږي لکه دا سړی بې سوره دی. هنرمندان او فنکاران د موسیقي د ژبې سره کلک اړیکي لري او د موسیقي په یوه یا مختلفو الو یو له بل سره په سور کې مختلف تالونه غږولې شي. په لویدیز والو ټولنو کې د موسیقي د زده کړې لپاره یو ډول انځورونه شته دی چې د نوټ په نامه یادیږي خو په پښتني ټولنه کې د موسیقي د غږولو لپاره د نوټ کوم سیستم نه شته دي. په عنعنوي توګه د رباعي، غزل، لوبې، داستان، چاربیتې، بګتۍ او دا سې نورو تالونو تر مینځ توپیر کېږي او د هنرمندانو د یو کول څخه بل کول ته رسول کېږي ځیني هنر مندان د موسیقي د الو د غږولو سربیره خپله سندرې هم وایي چې د سندرغاړو په نامه یادیږي. ځیني نور بیا خپله شاعران هم دي چې د مجلسي شاعرانو په نوم یادېږي دوی د خپل دې توان څخه د موسیقي د ودې او پراختیا له پاره کار اخلي. د پخوانیو سندغاړو ډېره کې نالوستي کسان و او سندرې به ئې په یادو یادولې خو د اوسني هنرمندانو ډیره کې لوست او لیک کولې شي او ځینو ئې لوړی زده کړې هم کړي دي. دوی په عنعنوي راپاتې شوو تالونو قناعت نه کوي نوي تالونه جوړوي او یا د نورو ژبو د موسیقی تالونه د خپلې ژبې په قالب کې راولي او په دې ډول د موسیقي ژبې ته نوي رنګ او خوند ورکوي او پراخوي ئې. په پښتو کې د هندي تال د رواجولو په پلرونو کې استاد رحیم غمزده شمیرل کېږي چې خپله شاعر اود لوړ تخیل څښتن دی. ځیني نور هنرمندان چې د لوړو زده کړو خاوندان دي عنعنوي تالونه په نوي ډول سمبالوي. په دې ډله هنرمندانو کې استاد یار محمد علیزی راځي چې د پوهنتون استاد دی د ده دزیات شمیر نوښتونو په ډګر کې د غزلونو د امیل یا ځنځیر نوښت خورا خوندور دی.

دلته دی د یو شمیر غزلونو څخه چې یو هومره څپې (سیلابونه) لري او د مفهوم او مانا له پلوه یو بل ته نژدې وي امیلونه یا ځنځیرونه جوړوي او په موسیقي کې ئې د داستان په بڼه کې وړاندې کوي. د غزلونو د دې داستان ارزښت ئې په دې کې پروت دی چې که یوه برخه ئې څوک وانه وري نو د بلې برخې سره اړیکي نه ستونزمن کېږي او د پاتې برخې څخه چې نوی غزل وي پوره خوند اخستلې شي. موسیقي د پښتنو په حجرو او دیرو کې لویه شوې او د پښتني کولتور برخه ده د حجری مجلس پښتنو مشرانو نه یوازې پاللې بلکې خپله ئې هم کله نا کله رباب یا سیتار غږولې دې.

د حجرې د موسيقۍ په برخه کې ښاغلي رضوان منور او ښاغلي شا ځوان منور نوي تالونه رايستلي دي او دا موسيقي ئې لاپسې خوندوره او رنګينه کړې. د پښتو د موسيقي بابا [1] استاد خيال محمد او ښاغلي هدايت الله د غزل موسيقي ته ژوند وربښلې دې.
ښاغلي ماسټر علي حيدر ګڼ شمير نوي تالونه په پښتو موسيقي کې ايجاد کړي دي ښاغلي ګلزار عالم، ښاغلي سيد اګل مينا ،ميرمن هما ، ميرمن کشور سلطان، ښاغلي سردارعلی ټکر او ښاغلي رسول باچا په موسيقي کې د بېلو بېلو تالونو نوښتګر دی.
د نوښتګرو هنرمندانو کړی غته ده چې د ټولو نومونه يادول ئې ځانته کتاب غواړي لنډه دا چې د پښتو په موسيقي کې نه يوازې نوي تالونه زيات شوي دي بلکې د الو شمير پکې هم زيات شوې دی چې دا ئې د ودی او پرمختګ ښه ده موسيقي د ساوالو (نفسي، روحي) لړونو سره اړيکي لري نو ځکه ويل کيږي چې موسيقي د روح غزا ده. موسيقي ټولنيز پوهنيز ارزښت هم لري د بيلګې په توګه په ساپوهنه کې د موسيقي څخه د ځينو ساوالو (نفسي او روحي) ناروغيو د درمل د لاري په توګه کار اخستل کيږي چې دلته زمونږ د خبرو موضوع نه ده. لنډه دا چې موسيقي د ژوند د ډيرو اړخونو سره اړيکې لري او بې له موسيقي ټولنه ګوډه او ژوند نيمګړي دی.

---

[1] دا نوم د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند (پښتون سوشل ډيموکراټيک پارټۍ) له خوا په جرمني کې پر کال ۱۹۹۲ ورکړل شوي دې.

معياري ژبه او پوهنيزه ژبه

ژبه ټولنيز ملكيت دى چې يو عام اړخ او څو خاص اړخونه لري.

د ژبې عام اړخ: د ژبې عام اړخ د هغه وييو (لغاتونو يا لفظونو) څخه جوړ شوې چې د ټولنې عام وګړي پرى ګړيږى او پوهيږي لكه ستركي، سپوږمۍ، بنګړى، ژمى او داسې نور.. د ژبې عام اړخ ته معياري ژبه هم وايي چې د ويي (لغتونو) پانګه يا زيرمه (ذخيره) ئې زياته ده چې د ژبې د ګرامري قاعدو خاكه جوړوي.

د ژبې خاص اړخونه: هره پوهنه د خپلو ربړو د حل لپاره يو شمير وييى (لغاتونه) پكار وي د بېلګې په توګه فزيك پوهنه، د كيميا پوهنه د خپلو ربړو د حل لپاره د ژبې د عام اړخ د وييو سربيره يو شمير خاصو وييو (لغاتونو) ته اړتيا لري چې د ژبې خاص اړخ جوړوي. د ژبې دا خاص اړخ د ژبې د عام اړخ د مرستې په پرته نيمګړي او كار نه وركوي. په نورو تورو سره د ژبې خاص اړخ لږ شمير ويي پانګه لري چې بې د عام اړخ د وييو (لغاتونو) د پانګې او ګرامري قاعدو د مرستې ګوډ او شل او د كاره لويدلي دي. مسلكي پوهنيزي ژبې د ژبې د عام او خاص اړخ ټولګه ده.

لهجې: زمونږ په ژبه پښتو كې درې لهجې په نظر راځي چې يوه لهجه ئې قندهارۍ، بله پېښورۍ او دريمه ئې د پكتيا لهجه ده چې په دې لهجه كې «الف» په «و» بدلوي او «و» په «ئې» بدلوي. د پكتيا لهجه عامه شوى نه ده خو قندهارۍ او پېښورۍ لهجې عامې شوي دي او د پښتو په ليك دود كې هم ورته پام كېږي او توري ورته ټاكل شوي. دا توي د دوه غږه تورو په نامه ياديږي چې يو غږ ئې د پېښورۍ لهجې پورې او بل غږ ئې د قندهارۍ لهجې پورې اړه لري. د بيلګې په توګه د «ښ» توری هم «ش» او هم «خ» ويل (تلفظ) كيږي. له دې كبله د پېښورۍ لهجې پختون چې په قندهارۍ لهجه كې پشتون ويل كيږي په «ښ» ياني پښتون ليكل كېږي چې په قندهارۍ لهجه «ش» او په پېښورۍ لهجه كې «خ» تلفظ كيږي همدغسې په ږيره چې قندهارۍ لهجه كې ژيره ورته ويل كيږي ږيره ليكل كيږي. د دوه غږه تورو لپاره په نورو ژبو په تېره بيا په انګليسي (انګريزی) ژبه كې كوم عام منل شوي ليک دود نه شته او سړی نه پوهېږي چې پښتون څنګه په انګليسي ژبه وليكي دا به په راتلونكې كې د ژبپوهانو دنده وي خو ښه به دا وي چې زمونږ د پښتو ژبپوهان په دې برخه كې كوم نوی توری غوره نه كړي او موجوده تورور څخه په تركيبي ډول كار واخلي ځكه كه نوي توري غوره شي.

نو د هغې د لیکلو لپاره به نوي ماشینونه ضروري و ترکیبي توري به لږ ځای ډیر ونیسي خو د نویو ماشینونو د جوړولو ضرورت به نه وي او سږی به د موجوده ماشینونو څخه کار اخستلې شي. پخپله په انګلیسي ژبه کې هم د ترکیبي لارې څخه کار اخستل شوې دې د بیلګې په توګه د « ش » له پاره دوه توري (Sh) همدغسې په جرمني ژبه کې هم دا اصول چلیږي د « ش » لپاره (Sch) درې توری نیول شویدي.

ادبي ژبه

مونږ د ادب د پيژندنو (تعريفونو) په درياب کې ځان نه غوپه کوو او په دې باندې بسيا کوو چې د ادب لفظ په پښتو کې د عوامو په ژبه کې د روزنې او اخلاق په مانا سره کارول کيږي. د بيلګې په توګه: دا هلک بې ادبه دی. ياني دا هلک روزل شوی نه دی يا بداخلاقه دی.
خوشحال خان بابا (۱۶۴۳ ـ ۱۷۲۱ ع) هم د ادب لفظ د روزنې او اخلاقو په مانا سره کاره وي چې وايي:

ادب دا دی چې اوبه ښې
په درې دمه به ئې ته ښې
چې ئې نوش په يوه دم دی
هغه اوښ دی نه ادم دی
(ارمغان خوشحال، بې کاله مخ ۹۱۲)

حميد بابا هم همدا خبره پخوي چې وايي:

په زړه مهر په خوله قهر ځوی ته بويه
څه ښه وايي چيرته ډب هلته ادب
(عبدالحميد مومند ديوان ۱۹۸۳)

خو ادبي ژبه لکه د پوهنيزې ژبې په شان ځانته ويي پانګه (د لفظونو زېرمه) نه لري بلکې هغه ژبې ته ويل کيږي چې د ژبې ويي (لفظونه) په کې په نوي نښتون کې استعمال شوي وي. د رحمت شاه سائل دا شعر د ويي (لفظونو ، نومونو) د نوي نښتون بېلګه ده:

ګرانه پېښوره زه ګونګی نه يم خو څه وکړم
هېڅ ويلې نه شم چې د وس ژبه مې غوټه ده
(رحمت شاه سائل: د ښايستونو د پسرلي بادونه، پېښور دوهم چاپ ۱۹۹۵ ع)

رحمت شاه سائل په دی شعر کې وس ته ژبه ورکوي او وايي چې د وس ژبه مې غوټه ده. په دې توګه سره وس ژبه پېدا کوي چې د وخت په تيريدولو سره عامېږي.

په لنډو تورو سره ادبي ژبه نوښتی (Creativ) ژبه ده خو دا نوښت (Creation) باید ه دی چې د سم سوچ (منطق) د اصولو سره برابر وي یانې د وییو (لغاتونو یا نومونو) د منل شوو مانا وو سره ټکر ونه خوري د بېلګې په توګه که څوک وو ایې چې پیالې لیونی شوې نو دا هر چا ته پته ده چې پیالې دا خاصیت نه لري او نه لیونی کیږي نو دې ډول نوښت ته اړتیا نه لیدل کیږي او ارزښت نه لري هر څومره چې یوه نوښت ته اړتیا (ضرورت) وي هغومره ئې ارزښت زیات وي ادبي ژبه یوه منظمه برخه هم لري چې د وییو (لفظونو) غږونه پکې دوزن (تال) او قافې په بنسټ په مختلفو بڼو کې تنظیم شوي وي او یو نظم لري چې د شعر په نامه یادېږي. رحمت شاه سائل ئې د لفظونو تصویر ګڼي « هغه تصویر چې ځان هم په کې ښکاری، قام او وطن هم ، قام او د وطن ثقافت او تاریخ هم په کې ښکاري»
(سائل په پایکوب ۱۹۹۳) مونږ د سائل دا خبره د ساپوهنې په رڼا کې پخوو او د شعر او شاعر اړیکې څېړو. لومړی د شاعر سړیتوب (Personality) انځوروو.

شعر او شاعر: که دانسان ژوند ته ځیر شو نو وبه وینو چې د ژوند په مختلفو پړاونو کې مختلفې اړتیاوې مینځ ته راځي خو یوازې هغه اړتیاوې سرته رسېږي چې د ټولنې دود، دستور او قوانیونو سره په کومه کې چې سړی ژوند کوي برابرې وي. هغه اړتیا وې چې د ټولنې د دود، دستور او قوانینو سره سمون نه خوري د ټولنې له خوا غندل کېږي او پوره کیدل ئې منع او په سزا رسیږي له دې کبله د دغه اړتیا د پوره کولو هیلې (لاشعور) کې ځای نیسي او پټېږي کومې چې سړي ته ډیرې ګرانې وي او مینه ورسره لري نو د سرته رسیدلو هڅه د لاسه نه ورکوي د لاشعور څخه تخیل ته ځي چې غېرې رښتیاني (حقیقي) نړۍ پورې تړلې دي او رښتیاني (حقیقي) نړۍ په شان پکې دا هیلې په سزا نه رسیږي. په تخیل کې ددې هیلو د سرته رسیدلو هڅه کېږي. تخیل د سرته نارسېدلو او شړل شوو هیلو او ارزوګانو کور دی او همدا د تخیل محرکه قوه هم ده. کله چې د مینې په بدرګه کې چې د ښکلا مور ده احساسات او جذبات چې د حقیقي نړۍ پورې اړه لري د تخیل سره یو ځای شي نو سرته نارسېدلې هیلې رښتیانې نړۍ (حقیقي نړۍ) ته ببرته لاره پیدا کړي.
څه وخت چې د ننې یا بهرنې علتونو له کبله د سړي احساسات او جذبات راوپارېږي نو بیا د سزا څخه دومره نه ډارېږي او جرئت ئې زیاتېږي.

ملي شاعر ملنګ جان هم دا خبره تائیدوي:

حق به وایم سمد ستي که وژل کېږم
جــذ بات د شاعـری دي نـه ويـرېـږم
(د ملنګ جان: خوږې نغمې، پښتو ټولنه، کابل ۱۹۶۹ ع).

شاعران همدا خلک دي چې د خپلو راپارېدلو احساساتو او جذباتو په واسطه د مینې په زور سره خپلې سرته نارسېدلې هیلې، ارزوګانې او ارمانونه د تخیل څخه راخلي او د الفاظو په نوي نظم کې ئې ټولنې یانې رښتیانی نړۍ (حقیقي نړۍ) ته په داسي بڼه کې وړاندې کوي چې له یوې خوا په سزا ونه رسېږي او له بلې خوا ئې هیلې د عمل جامې واغوندي. د پورتنو ټکو څخه راپه ګوته کېږي چې د شعر او د شاعر تر مینځ اړیکې شته دي. په شعر کې د شاعر سرته نارسېدلې هیلې، ارزوګانې او ارمانونه پراته دي. ددې ارمانونو او ارزوګانو په بنسټ چې د شاعر د ژوند د مختلفو پړاوونو محصول دي د شعر موضوع هم ټاکل کېږي هر شعر یو موضوع لري چې د شاعر د سړیتوب (خاصیت) لړونه پکې لیدل کېږي. « شعر د شعر د پاره » په دې حالت کې خپله شعر موضوع جوړوي لنډه دا چې سړی د سائل دا خبره تائیدولې شي چې شعر د لفظونو تصویر یا انځور دی چې هم په کې شاعر ځان او هم جهان وینې شاعر پخپل شعر کې د یو چا یا څه شي سره ځان ورته او مشابه کوي او یو یا ډېر رولونه لوبوي لکه د ګل، بلبل، تندر ، ناصح، تماشه کوونکی، د یوې ډلې د غړي یا د کومې ایډیالولوژۍ د نماینده، د یوې ډلې د مشر یا مبلغ او داسې نور رولونه لوبوي په شعر کې د شاعر د رول د راسپړیدلو په واسطه د شاعر د سړیتوب (Personality) او هم د هغه د جهان په هکله مالومات لاس ته راتللې شي . د بېلګې په توګه د یوې ډلې د مشر یا غړي او که صرف د کتونکې او تماشه کوونکې رول لوبوي. زیګمونډ فرایډ (Sigmund Freud) وایي چې هر څومره که سړی د شعر په فن کې مالومات ولري شاعر کیدلې نه شي (Freud, 1963).

شاعري یو پیدا ښتي استعداد دی شاعران هم د احساساتو او جذباتو له مخې او هم د سرته د نارسېدلو هیلو او ارزوګانو له مخې چې په شعر کې د شاعر د رول د راسپړیدلو له لارې ئې پته لګېدلې شي په ډلو ویشل کېدلې شي. عوام د احساستو له مخې مجلسي شاعران یانې هغه شاعران چې سندرې وایي په بادي او جوشي یا اتشي ویشي.

بادي هغه شاعر ته وائي چې شعر څپه پرې د باد په شان راشي او بيا پرې تېره شي يانې احساسات ئې راوپاربوي او بيا زر مړه شي خو د جوشي يا اتشي شاعر احساسات چې راوپاربږي زر نه مړه کيږي پرله پسې تودېږي او په جوش کې راځي. مينه، احساسات (جذبات) او تخيل د شعر د جوړولو وسيله ده چې ترکيب ئې د شعر جنسيت (څرنګوالي يا کيفيت) ټاکي، هر څومره چې په يوه شعر کې تخيل زيات کارول شوې وي هغومره پکې نوښت زيات وي. د پښتو د شعرونو مختلفې بڼې لکه غزل، داستان، بګتۍ، چاربېته او نور لفظونه د غړونو نظم په وزن او قافيه ولاړ دي.
په تيره بيا لنډۍ چې شاعر ئې معلوم نه دی او د ولسي ادب برخه ده پخپل وزن او يافيه کې هيڅ بدلون نه مني دلنډۍ لومړۍ مسرۍ نهه څپې (سيلابه) وزن لري دوهمه مسرۍ ئې ديارلس سيلابه ده او په اخر کې ئې « هـ» راځي يانې قافيه ئې په « هـ» سره ده.
که چيرته په وزن کې ئې ګوتې ووهل شي يوه څپه ئې زياته يا کمه شي او يا ئې قافيه بدله شي نو بيا ورته څوک لنډۍ ويلی نه شي. لنډۍ که د موسيقي په څپو کې راشي نو بيا د مسرۍ يا ټپې په نامه ياديږي او که د سروکي سره يو ځای شي د ټيکۍ په نامه ياديږي. په ځينو ژبو کې لکه جرمني د شعر لپاره قافيه ضروري نه ده او يوازې وزن بسيا کوي چې د هغوی د موسيقي د تال سره سور (برابر) کېدلې شي. دی ډول شعر ته ازاد نظم يا ازاد شعر وايي چې پښتو ته ئې هم سر رانه ايستلې دی دلته دا پوښتنه راپيدا کيږي چې دا ډول شعر څومره د پښتو ژبې په قالب کې راتلای شي او د پښتو د موسيقۍ د تالونو سره سور کېدلې شي. په پښتو کې خو وزن او قافيه د شعر له پاره شرط ده او که ئې ونه لري نو نيمګړی دی لکه چې يو انسان لاسونه او يا پښې ونه لري په هر ډول سره دا د ژبپوهانو کار دی چې دې ډول بې قافي کلام ته د شعر مقام ورکوي او که موزون نثر يا ادبي ټوټه ئې ګڼي.

د ژبې د توان او ودې پېماني

د ژبې توان (ظرفيت) د ګړونو يا غړونو د شمېر ياني د تورو د شمير له مخې او د ژبې وده د ويي پانګې (لغاتونو د پانګې) څخه چې يوه ژبه ئې لري ټاکل کيږي. هر څومره چې د يوې ژبې د ګړنو يا غړونو ياني تورو شمير زيات وي هغومره ددغې ژبې توان (ظرفيت) هم زيات وي ياني ډير غړونه پکې کارول کيږي. برخلاف هر څومره چې د يوې ژبې د تورو يا ګړونو شمير کم وي په هغومره اندازه ئې توان هم کم وي. خو دا ددې مانا نه لري چې يوه ژبه چې توان ئې زيات وي هغه دی خامخا پرمختللې وي او زياته وده ئې کړې وي. دا ددې پورې اړه لري چې يوې ژبې ته څومره کار شوی دی او څومره د وييو (لغاتونو) پانګه او ذخېره لري . يوه ژبه به ډير توان (ظرفيت) لري خو کار به ورته شوی نه وي نو دوييو پانګه (د لغتونو پانګه) به ئې کمه وي او بله ژبه به لږ توان (ظرفيت) لري خو کار به ورته ډير شوې وي او وييو پانګه (د لغاتونو پانګه) يا ذخيره به ډيره وي د بېلګې په توګه لوښی راواخلئ. يو لوښی به غټ وي او ډيرې اوبه به پکې ځائيږي خو اوبه به په کې کمې وي او بل لوښی به کوچنی وي خو اوبه به په کې ډېرې وي او د غټ لوښي په پرتله به ډېرې اوبه لري . مقصد دلته دا دې چې هغه ژبه چې ډير توان (ظرفيت) لري د هغې د غړونو شمير زيات دی او کولې شي چې د خپلو غړونو څخه زيات شمير نومونه جوړ کړي او هغه ژبه چې توان (ظرفيت) ئې کم وي نو د غړونو شمير ئې کم دی. نه شي کولې چې د خپلو غړونو څخه زيات نومونه جوړ کړي مجبوره ده چې د نورو ژبو څخه نومونه يا لفظونه واخلي . په نورو تورو سره هغه ژبې چې توان (ظرفيت) ئې زيات وي هغه پخپله ځان کې د ودی زيات قابليت لري او د نورو ژبو لفظونو يا نومونو ته اړ نه وي او هغه ژبې چې توان ئې کم وی هغه پخپل ځانکې د ودې قابليت نه لري.

ژبه او پېښنه (واقعيت)

ژبه د پېښنې (Reality) سره اړيکې لرى او د پېښنې (واقعيت) د پېژند او درک قوه ده. ميک ګريټ (Mcgrath) ليکې چې « په ژبه کې شيان او مالومات په ټولګيو ويشل کيږي. زمونږ ژبه د پېښنو (واقعيتونو) د پيژند وسيله ده (Mc Grath,1970) . دى زياتوي چې که چيرته په دوه ژبو کې د يوه شي (څيز) يا پېښنې (Reality) له پاره يو ډول (رقم، رنګ) لفظونه وي نو بيا د شي يا پېښنې (واقعيت) پېژند هم د دې دواړو ژبو د ويوونکو يو شانته دى برخلاف که بېل بېل ډول (رنګ،رقم، قسم) لفظونه وي نو بيا د شي يا پېښنې (Reality) پېژند (درک) او تصور ئې هم مختلف دى. د بېلګې په توګه زمونږ په ژبه کې د واورې د ټولو ښو (څهرو يا شکلونو) لپاره يو لفظ شته دي. د اسکيمو (Eskimo) قوم داسې يوه ژبه لري چې د واورې د مختلفو ښو يا حالتونو تر مينځ په کې تو پير کيږي. واوره د وريدلو په حالت کې، واوره د ځمکې پر سر، واوره د کور د بام پر سر . له دې کبله د اسکيمو (Eskimo) او زمونږ د واورې پېژند او تصور مختلف دى. د شيانو او پېښنو پېژند (درک) او تصور د ژبې پورې اړه لري او ژبه زده کېږي. زمونږ د شيانو او پېښنو پېژند (درک) او تصور هم د ټولنيز کيدلو د برخې په توګه د زده کړې په لړۍ (پروسه) ولاړ دي(Mc Grath,1976) .

د پښتو ژبه چې ډيره لرغونې ژبه ده د ډيرو پېښنو (واقعيتونو) د پيژندلو اينه يا هنداره ده د پښتو ژبې په مرستې سره سړى کولې شي چې ډېرې پېښنې وپيژني ما د پښتو ژبې په مرسته دا پېښنه او واقعيت (Reality) وپېژنده چې د انسان په وجود کې د ساايزو پېښنو دوه مرکزونه دي چې يو دماغ او بل زړه دى حال دا چې د لويديزو په ساپوهنه کې دماغ د ټول ساايزو يا نفسي توکونو مرکز ګڼل کيږي، خو که سړى د پښتو ژبې پر بنسټ د شيانو او پېښنو جاج واخلي نو دماغ د عقل او فکر مرکز دى او زړه د احساساتو ، جذباتو او غوښتنو لکه زړه مې نه غواړي چې هلته لاړ شم، زړه مې خفه دى، زړه مې خوشحاله شو او داسې نور ډير څه د زړه پورې تړل کيږي. دماغ او زړه دواړه د ساايزو (نفسي، روحي) توکونو واکمن مقامونه دي خو دا دواړه مقامونه يو له بل سره تړلي دي او ګډ کار کوي.

د دماغ او زړه د دندو دا ويش د جذباتو او احساتاتو (قار، ويرې) د جسماني (فزيو لوژيکي يا طبي) بدرګو په واسطه مدلل کيدلې شي، چې د زړه د حرکاتو او کار پورې اړه لري. نه يوازې په ساپوهنه کې بلکې پخپله ژبپوهنه کې هم پښتو د زيات شمير پېښنو (واقعيتونو) د پيژندنې سبب ګرځيدلې شي.

دلته الکزاندر هماګایف (١) سره د مرکې یوه برخه راوړو چې وایي «ما په یوه مجله کې لوستي و چې د پښتون د قام د ژبې پښتو د ګرامر پر مرسته د .وید ـ د کتاب الفاظ چې په سانسکرت ژبه لیکل شوي دي مانا کیدلې شي.
زما له دې ژبې سره مینه پیدا شوه چې دومره پخوانۍ ده او ګرامري قاعدو ئې پر پخوانیو ژبو اغیزه کړې او اوس هم پرې ولس غږیږی او د یوه قام ژبه ده نو د ژبو په انستیتیوت کې مې زده کړه. دی زیاتوي چې پښتو ژبې ته د پاملرنې له لارې ډیرې پېښې (واقعیتونه) راسپړل کیدلې شي، چې نه یوازې د پښتنو لپاره بلکې د ټولې سیمې او نړۍ له پاره ارزښت ولري» (هماګایف، ١٩٩٦).
په پښتو ژبه کې د ښځې او نر توپیر د نورو ژبو په برتله زیات دی ښځې د ځان له پاره الفاظ په بل ډول کاروي.
د پښتو ګرامر هم ځانګړې قاعدې لري» (هماګایف، ١٩٩٦).

---

(١) الکزاندر هماګایف روسی دی او اوس د ازبکستان راډیو د پښتو څانګې مشر دی او په پښتو رواني خبرې کولې شي. دی په ١٩٩٦ کال کې جرمني ته راغلې و اوما ورسره مرکه وکړه چې د ویډیو فلم ترې جوړ شوی دی، او زما سره دی دا پورتنی ټکې د دغه مرکې څخه رااخیستل شوې دی.

ژبه او سوچ (فکر، اند)

ژبه له یوې خوا د سوچ (اند ، فکر) د څرګندولو (پوهېدلو او پوهولو) وسیله ده یانې انسان په لغاتونو او لفظونو کې خپل سوچ څرګندوي او له بلې خوا فکر (اند) خپله د ژبې یوه بڼه یا څهره ده. د دې له پاره چې په دې خبره مونږ ښه پوه شو په یو مثال سره د فکر مهم اړخونه راپه ګوته کوو.

مثال: کله چې سړی په ژمي کې په حجره کې د شپې ښخ اوده وي او سهار راپاڅي او له حجرې څخه بهر راووزي او ووینې چې زمکه لمده ده نو فکر کوي چې د شپې باران شوی دی. که دې مثال ته ځیر شو، نو وبه وینو چې سړي باران پخپله نه دی لیدلي او حس کړی ئې هم نه دی، خو د زمکې د لمدوالي په واسطه په دې پوهېږي یا خبرېږي په نورو تورو سره فکر د نا سېده (غیر مستقیمي) پوهېدنې یا خبریدنې لړۍ (پروسه) ده چې دا د فکر یو اړخ دی. دغه ناسیده پوهېدنه یا خبریدنه د شیانو په مینځ کې د اړیکو او د نښتونونو په بنسټ ولاړه ده. تل چې باران شوي دی زمکه ئې لمده کړې ده او دغه نښتون څخه سړی خبر دی نو ځکه وائې چې د شپې باران شوی دی دلته د فکربل اړخ راښکاره کېږي چې هغه عمومي والی دی یانې د زمکې دلمدوالي او باران په مینځ کې نښتون عمومي خوی لري او د کوم یو خاص باران پورې د زمکې لمدوالی تړلې نه دی. هر باران زمکه لمده وي. په نورو تورو سره دا د دې مانا لري چې د فکر په لړۍ (پروسه) کې مونږ د شیانو د یوې ډلې د عمومي خاصیتونو سره مخامخ یو. فکر د یوې ډلې شیانو د عمومي خاصیتونو انعکاس او دشیانو په مینځ کې د عمومي نښتونونو او اړیکو موندنه ده. د فکر په ناسیده توب او عمومیتوب کې د ژبې سره د فکر اړیکې پراته او نغښتلي دي. مطلب دا چې د فکر په لړۍ کې مونږ تل د عمومي نومونو او لفظونو سره سرو کار لرو کوم چې د یوې ډلې شیانو د ګډ او مهم خویونو ښکارندوی دی د مثال په توګه « کلک» لفظ د ډېرو شیانو خوی جوړوي چې مونږ دغه ټول شیان چې کلک دی لیدلي نه شو ، خو فکر ئې کولې شو. له دې کبله عمومي نوم یا لفظ او فکر یو شي دی. فکر د ژبې د بڼې یا څهرې په توګه د ژبې برخه او د ژبې پورې تړلی دی. هر فکر چې د انسان په سر کې پیدا کېږي بې له ژبني موادو څخه مینځ ته راتللي او پیداکیدلي نه شي. داسې فکرچې د ژبې د موادو څخه ازاد وي موجودیت نه لري (Teplow,1972) د ژبې او دفکر اړیکې له یوې خوا د ژبې د ارزښت مانا لري او له بلې خوا دا واقعیت راښائي چې هر څومره چې د انسان ژبه رسېدلې وي هغومره ئې فکر هم رسېدلې وي. د دې واقعیت په رڼا کې د ژبې د ودې لپاره کار په کار دی. د ژبې د ودې او روزنې ځایونه کورنۍ، ښوونځي او پوهنتونونه دي. له دې کبله ددې هڅه ضروري ده چې په ښوونځیو او پوهنتونو کې بچیانو ته په مورنۍ ژبه پښتو د زده کړې امکانات برابر شي.

پښتو ژبه زده کړه نه یوازې د فکر چې د سړیتوب کره برخه ده د سمې ودې مانا لري بلکې د قام د سوکالۍ او ودانۍ نښه هم ده چې د نورو قامونو سره ئې د سیالۍ جوګه کوي.

ژبنيز استعداد

لکه څنګه چې مخکې مو راپه ګوته کړله ژبه د شيانو او پېښو لفظي انځور دی. انسانان په لفظونو د شيانو پېښو دانځورلو په برخه کې مختلف استعدادونه لري. په روانو او روښانو الفاظو سره د شيانو او پېښو انځورونه د دې استعداد ښنه ده . دا استعداد د يادښتی ياني حافظې (Memory) د توان سره تړلی دی هر څومره چې د چا د (يادښتی) توان (ظرفيت) زيات وی هغومره زيات لفظونه رايادولې شي چې د رواني او روښاني ګړيدنې (بلاغت او فصاحت) سبب ګرزي د رواني او روښاني ګړيدنې په ښنتون کې مونږ پخپل بل يو کتاب کې چې د هوښيارتيا تله نومېږي په ټاکلي توري په ټاکلي وخت کې د لفظونو يا لنډيو د ليکلو يا ويلو لاره راپه ګوته کړې ده چې دليکلو شوو يا ويل شوو لفظونو يا لنډيو د شمير په واسطه د رواني او روښاني ګړيدنې استعداد اټکل کېدلې شي . اوس يوه بله لاره په ښنه کوو چې مونږ ورته د يادښتې تله (Memory Test) وايو دا تله نه يوازې د رواني او روښاني ګړيدنې د کچولو له پاره مهمه ده بلکې د ښوونې او روزنې په برخه کې يوه ارزښناکه وسيله ده ځکه چې زده کړه بې له «يادښتې» ياني حافظې (Memory) څخه امکان نه لري.

د یادښتې تله (Memory Test)

بیلګه

ښودنه :. تاسې دا شکلونه ښه په ځېر وګورئ او یاد ئې کړئ
(دومره وخت د کتلو لپاره ورکول کیږي چې څومره تاسې اړتیا لرئ)

١

٢

اوس په دې شکلونو کې راپه ګوته کړئ چې کوم تاسې لیدلي دی.



تله

اوس نو دا شکلونه په ځير وګورئ او ياد ئې کړئ



په دشکلونو کې راپه ګوته کړئ چې تاسې کوم شکلونه ليدلي دي.



په دشکلونو کې راپه ګوته کړی چې تاسې کوم شکلونه لیدلي دي.



د ځوابونو پاڼه

نوم:

د کورنۍ نوم یا تخلص:

کسب یا دنده (وظیفه):

عمر په کلونو:

نېټه:

بېلګه

د یادولو د انځورونو لمبر	د ځواب د انځورونو لمبر
۱	
۲	

تله

د يادولودانځورونو لمبر	د ځواب د انځورونو لمبر
۱	
۲	
۳	
۴	
۵	
۶	
۷	
۸	
۹	
۱۰	

د ســـمو ځوابونو پـــانه

بېلګه

د يادولو د انځورونو لمبر	د ځواب د انځورونو لمبر
۱	۴
۲	۶

تلــه

د يادولو د انځورونو لمبر	د ځواب د انځورونو لمبر
۱	۲۶
۲	۹
۳	۱۴
۴	۴۹
۵	۲۵
۶	۳۸
۷	۴۳
۸	۳
۹	۲۰
۱۰	۳۴

ارزښتنه: هر یو سم ځواب ته یوه نمره ورکول کېږي چې ټول لس سم ځوابونه امکا ن لری او لس نمرې کیږي. که چا سم ځوابونه د یادولو د انځورونو (شکلونو) لمبرو له مخې ورکړي وي او د لمبرو پرله پسې توب ئې هم مراعات کړی وي نو بیا دوه نمرې نورې هم ورسره اضافه کېږي چې ټولې ۱۰ + ۲ = ۱۲ نمرې کیږي.

سم ځـــوابونه	مـــانا	
۱ ـ ۳	کمزورې یا دښته	(حافظه)
۴ ـ ۶	برابره یا دښته	(حافظه)
۷ ـ ۸	غښتلې یا دښته	(حافظه)
۹ ـ ۱۰	ډیره غښتلې یا دښته	(حافظه)
۱۱ ـ ۱۲	ډېر زیاته غښتلې یا دښته	(حافظه)

دتللو د تکرار څخه د زده کړی پېمانه هم راپه ګوته کیدلې شي

ژبه د انسان د ژوند په اوږدو کې

لکه څنګه چې ژبه د انساني نړۍ په تاریخ کې د زده کړې په لړۍ (سلسله) ولاړه ده د انسان ژوند د مور په ګېډه کې پيل کيږي او تر مرګه پورې دوام لري. امريکا يي پوهانو د خپلو څيړنو په ترڅ کې لا د مور په ګېډه کې د ماشوم يو شمير غلي ګړونه اوريدلی دي او له دې څخه ئې داسې نتيجه اخيستې ده چې انسان د زيږيدو څخه د مخه هم د ګړونو يو خاص ميخانېزم لري (Salber,1958) . خو دا د دې مانا نه لري چې د مور په ګېډه کې ماشوم ګڼې خبرې کوي يوازې دا مونږ ته راپه ګوته کوي چې د خبرو د توان بنسټ جوړشوی دې چې ورسته بيا وده کولی شي .
همدغسې کله چې يو ماشوم په اول ځل پيدا کيږي نو چغه کوي دغه چغه هم د خبرو د توان د بنسټ د جوړيدو مانا لري. سا لبر (Salber) ليکې: چې د ډيوی (Dewey) او مارټي (Marty) لپاره د ژبې جرړې د ټولنيزې اړتيا څخه اوبه اخلي او اردمان (Erdmann) همبولډ (Hamboldt) او لاځاريوس (Lazarus) بيا په دې برخه کې خاص ارزښت د ژبې او نورو ساوالو فعاليتونو او توانونو اړيکو ته ورکوي (Salber,1958).
همدغسې د سټرن (Stern) له پاره د ژبې بنسټ لومړی د انسانانو اړتياو د پوره کولو پر هڅه ولاړ ؤ چې ورو ورو ئې د سوچ (فکر) تصور ، احساساتو او ارادې د ودې او څرګندولو اله وګرزيده (Stern , 1927).
ژبه د ټول (سمت) ساوال (نفسي، روحي) ژوند سره ټينګه تړلې او د ساوال (نفسي ، روحي) ژوند په وده کې کره برخه لري او هم د ساوال ژوند جوړښت او وده په ژبه پوره اغيزه لري او د ژبې څرنګوالي (کيفيت، جنسيت) ټاکي. ژبه او ساوال ژوند يو له بل سر دوه اړخيزه اړيکې لري او يو له بل څخه بېلېدلې نه شي. د ژبې په ډډ او وده سرې سم نه شي پوهيدلې که ئې د نورو ساوالو پيښو او ځواکونو څخه په ناپيلي توګه د اشارو يو سيستم وګڼي او يا ئې د ګوښې او ځانګړې توان ننبه لکه د پوهېدلو او پوهولو (مفاهمې) اله وبولې (Salber,1958). خو هر انسان چې په يوه ټولنه کې پيدا کيږي ځانته ژبه لري او په هره ټولنه کې چې څوک پيدا شي د همدغې ټولنې ژبه ، دود ، دستور او نور کړه وړه خپلوي . دا چې پښتنې ټولنه د لويديزوالو ټولنو سره ډير توپير لري نو مونږ د څيړونکو د ټولنيزو (عمومي) نظريو څخه چې يوازې د لويديزو ټولنو پورې تړلې نه وې او د پښتنې ټولنې لپاره هم اتبار لري او د پوهنيز ولاور او ميتودونو (Methode) څخه کار اخلو او په خپلو څيړنو او کتنو تکيه کوو.

کورنۍ : کورنۍ د هرې ټولنې کوچنۍ برخه ده .د پښتني ټولنې کورنۍ د لوديزوالو ټولنو کورنۍ سره توپير لري ، د لوديزوالو ټولنو کورنۍ يو کوله يا يو نسله کورنۍ ده او يوازې د مور، پلار او بچيانو څخه جوړه شوې او کوم بچی چې ئې لوي شي هغه پخپله لاره ځي او د مور او پلار څخه بيلېږي د پښتني ټولنې کورنۍ د دوه يا زياتو کولونو يا نسلونو څخه جوړه شوې ده چې مور، پلار، نيا ، نيکونه، غور نيکونه او تر نيکونه پکې يو ځای اوسېږي. دا کورنۍ د کولونو د ترون پر بنياد ولاړه ده کولونه پکې تر هغې په يوه کور کې اوسېږي تر څو چې تنگ شوي نه وي او کله چې کور تنگ شي نو بيا دبېل کور غم خوړل کېږي. دې ډول کورنيو ته ډله ايزې کورنۍ يا غټې کورنۍ ويل کېږي. هره کورنۍ چې د ټولنې يوه برخه ده د ټولنې سره د ژبې له لارې سمون کوي. هر تن د خپلې کورنۍ له لارې د ټولنيز کېدولو په لړۍ (سلسله) کې برخه لري. په دې توگه ژبه د انسان په ژوند کې د ټولنې سره د سمون او د ټولنيز کيدلو په لړۍ کې مينځ ته راځي د ژبې زده کړه په هغه کورنۍ کې په کومه کې چې ماشوم پېدا شوې وي پيل کېږي. خو دا زده کړه د ماشوم په ساوال او جسماني ودې ولاړه ده. ساواله (نفسي ، روحي) او جسماني وده يو له بل سره تړلې ده او چاپېريال پرې متقابله اغيزه لري د ساوالو(نفسي، روحي) او جسماني توکونو پيدا ښنتي جوړښتونه د چاپيريال د متقابله اغيزې د لاندی د ژوند په مختلفو پړاوونو کې بشپړ او پخيږي. انسان د ژوند په مختلفو پړاوونو کې مختلفه زده کړه کوي. په دې کې د ژبې زده کړه هم شامله ده. په پښتني يا غټه کورنۍ کې د لوديز د کوچنۍ کورنۍ پر برخلاف ماشوم د مور او پلار سربيره د نيا ، نيکه او کور د نور کسانو سره د جسماني او ساوالي ودې په لړ کې اړيکې پېدا کوي او کوچنۍ کورنۍ په شان نه وي.
چې يوازې د مور، پلار خويندو او ورونو سره ئې لري. دلته د کوچنيو کورنيو په شان ځانگړي اخلاقي « وجدان » زه نه بلکې يو ډول ډله ايز اخلاقي زه يا وجدان وده کوي چې وروسته بيا د ټولنيز ژوند نماينده وي.

د ورځني ژوند په ډګر کې څېړنه: ما د ټولي ساوالی او جسماني ودې په نښتون کې پخپله غټه پښتنه کورنۍ کې که څه هم بهرني چاپېریال جرمني دی خپل پېدا شوي لمسیان پوهیال (۳ ، ۱۱ ، ۱۹۹۸) پتوال (۲۲ ، ۷ ، ۱۹۹۹) او سلما (۲۲ ، ۱ ، ۲۰۰۰) د ژبې د ودې او زده کړې په برخه کې د منظمې کتنې لاندې ونیول چې سرې ورته د ورځني ژوند په ډګر کې څیړنه (Feld Research) ویلې شي. [۲] د څېړنې په نتیجه کې د ودې لاندې پړاونه را په ګوته شول.

---

[۲] په ورځني ډګر کې د ماشومانو د کتنې څیړنې (Feld Research) لویدیزوالو پوهانو لکه ستومپ (Stumpf) او پریسیر (Preyser) پخپلو ځامنو کړې دي (Oerter,1970,15.336F).

۱) **د ملاستې پړاو:** دا پړاو له زیږېدلو څخه پیل کېږي او د ماشوم له ملاستې څخه د سر تر جګولو پورې رسېږي په دې پړاو کې ماشوم ژړا او موسکا کولې شي خو ژړا له موسکا څخه لږ څه مشره وي. د دې پړاو په اخرني وخت کې غوریدلې هم شي.

۲) **د ناستې پړاو:** دا پړاو د سرجګېدلو وروسته پیل کېږي او لومړی ماشوم د یوال یا بالښت ته د ډډې وهلو په مرسته کښیني او بیا ازاد کیناستلې شي او تر خاپوړو دوام کوي په دې پړاو کې ماشوم څپې تکرارولې شي لکه بابا بابا یا دادا دادا او هم ئې د خپل چاپېریال سره لږ څه سمون کړي وي او خپل چاپېریال کې د هر نوي شي څخه ډاریږي (دا پړاو په اوومه ، اتمه یا نهمه میاشت پیل کېږي او یوې څخه تر درې میاشتو پورې دوام کوي) .

۳) **د خاپوړو پړاو:** دا پړاو د لاسو او پښو د حرکت په واسطه پیل کېږي او د میز یا بل شي ته د ودریدلو پورې رسېږي په دې پړاو کې ماشوم کله نا کله د خپلې خوښې شي پسې زور کوي او د یوې یا دوه څپو لغاتونه ویلې شي (دا پړاو د ناستې د پړاو وروسته پیل کیږی او د ماشوم د یو کلنۍ یا یو نیم کلنۍ عمر پورې دوام کوي).

۴) **د ودریدلو پړاو:** د مېز یا بل شي په مرسته د ودریدلو څخه وروسته پخپله ودریدلې شي دا پړاو ډیر لنډ دی یوه یا دوه اوونۍ وي او د ګرځېدلو زده کړه په کې کېږي لومړی ودریږي او رالویږي او بیا ودریږي بیا ودریدل زده کوي خو له ګام سره رالویږي . بیا پاځیږي او ګام اخلي تر څو چې ګرځېدل زده کړي.

۵) **د ګرځېدلو پړاو**: دا پړاو د اودریدلو وروسته (له یو کلنۍ نه نیولی تر یو نیم کلنۍ پورې) پیل کیږي او ښوونځي ته د تللو پورې دوام کوي. ددې پړاو په لومړي سر کې ماشوم څه نا څه د وییو پانګه پیدا کوي او په دې پوهیږي چې هر شي یو نوم لري او خپله هم یو نوم لري او د دوو یا دریو وییو جملې جوړولې شي لکه بابا لاړ، لالا قلم واخله. په دریم پړاو کې په لغاتونو کې سوچ کولې شي، پوښتنې او بیا نیې (څرګندونې) کوي.
ښوونځي ته په تګ سره لومړنی ټولنیز کېدنه پای ته رسیږي او دویمي ټولنیز کېدنې پړاو پیل کېږي چې له بلوغه پورې رسیږي چې ټول ساوال او جسماني جوړښتونه په کې بشپړ او پاخه شوي وي ورپسې د ځوانۍ پړاو راځي چې دا پړاو د بوډاتوب پورې رسیږي چې توانونه بیر ته مخ په کمېدو شي. ددې پړاونو د دوام وخت او موده د دنني یا بهرني علتونو له کبله تغیر خوړلې شي خوپېدا ایښتي یو له بل پسې راځي. سر بیره پر دې ماشوم په ډیر څه پوهیږي نسبت هغې ته چې ویلې ئې شي. د بېلګې په توګه ماشوم د ګرځېدلو د پړاو په لومړي سر کې خپل نوم پېژني خو ویلې ئې لا نه شي، چې دوه درې میاشتې وروسته ئې بیا ویلې هم شي.
ماشومان په لومړۍ سر کې په یو څپه ئې یا دوه څپه ئې اسانو وییو خبرې کوي او ځانته خپله ژبه لري او د سختو وییو څخه لږ څه کموي لکه د تندار پر ځای تندا وایي. پوهیال په لومړۍ سر کې خپل ځانته «پوه» او پتوال ته «پتو» خو دوه درې میاشتې وروسته یې پوهیال او پتوال سم ویلی شو.
ماشومان د لویانو د رول تقلید کوي او غواړي چې د هغوی په شان شي په دې لړ کې د لویانو د ژبې تقلید هم کوي خوتل نه. لا د خاپوړو په پړاو کې د سړیتوب لومړنې پیدا ښتي بنسټونه راښکاره کیږي د بیلګې په توګه پوهیال چې به یو شي ته ځیر شو نو بیا ترې پام بلې خوا اړول ګران کارؤ او هم چې کوم شي به ئې په لاس کې نیولې و هغه به یې د بل شي په بدل کې په اسانۍ له لاسه نه ورکاوه دا د ننیز خویه سړیتوب [۳] (Introvertierten Personality) نښه ده.
پتوال بیا برخلاف هر شي ته پام وي او هم په لاس کې نیولی څیز په اسانۍ د بل شي په بدل کې ورکوي چې دا د بهرنیز خویه یا ټولنیز سړیتوب (Extrovertierten Personality) نښه ده.
د ژبې د زده کړې له پاره د یو شمیر ساوالو جوړښتونو څه نا څه وده ضروري ده. بیا د ساوالو جوړښتونو د ودې سره په ګډه د چاپیریال د متقابلې اغیزې په بنسټ وده کوي.

[۳] د ننیز خویه او بهرنیز خویه سړیتوب د دې کتاب په بله برخه کې چې لاسي لیک او سړیتوب نومیږي روښانه شوي دي.

پښتو لیک دود

د پښتو پخوانی لیک میخمري و چې د میخي لیک به نامه هم یادیږي. پروفیسر ډاکتر ګل جانان ظریف دوه نیم زره کاله پخوانی پښتو میخمري ډیبونه (کندل شوی لیک) راپه ګوته کړي دي. ده په همدې نوم یو کتاب لیکلې دی چې په (۱۹۹۴ ع) کال کې په پېښور کې چاپ شویدی. د میخمري یا میخي لیک څخه مطلب هغه لیک دې چې د میخي څهرو په شان توري لري. ګل جانان ظریف لیکي چې « د هغه میخمري ډیبونو الفبا چې په پښتو پورې اړه لري تر اوسه د پېژندل شو تورو شمیر ئې ۳۲ ته رسېږي» (ظریف، ۱۹۹۴) دا لیک یو شمیر نوری نښې هم لري چې په لیکلو کې کارول کېږي. د پښتو اوسنی لیک دود د عربي څخه مینځ ته راغلي او داسې بریښي چې پښتني ټولنې کې د اسلام د مقدس دین د راتګ وروسته لومړی په جماعتونو کې لوی شوی دی. دا چې پښتونخوا ته کله د اسلام مقدس دین راغلي او کله پښتنو منلی دی په دی هکله قاضي عطاء الله خان چې د پښتنو تاریخ ئې لیکلې دی، وائي: کله چې خالد بن ولید چې د بني اسرائیلو د قوم یو لوی مشر و ایمان راوړ او مسلمان شو نو دغور پښتنو ته چې نسلي اړیکې ئې ورسره لرل لیک راولېږه چې دوی هم مسلمانان شي. د غور د پښتنو یوه جرګه د قیس په مشرۍ مدینې منورې ته لاړه او د اسلام مقدس دین ئې ومانه او حضرت محمد (ص) له خوا په قیس عربی نوم عبدالرشید کیښودل شو. کله چې دا جرګه بېرته راتله نو څو تنه عرب مبلغین ئې هم ورسره ملګري کړل. کله چې « عبدالرشید » د غور غرونو ته واپس راورسېده نو هغه د خپل قوم مشري او رهنمایي په داسې شان وکړه چې په لږه موده کې هغوی ټول مسلمانان شول. قیس عبدالرشید ته خالد (رض) خپله لور هم په نکاح کې ورکړه چې د هغې څخه عبدالرشید ته خدای تعالی درې زامن ورکړل د مشر ځوی نوم ئې سړبن د دویم نوم ئې بیټ او دریم نوم ئې غرغښت کېښود. د قیس د دې درې واړو ځامنو دومره ډیر اولاد پیدا شو چې هر یو د یوې لویې قبیلې نیکه شو (قاضي عطاء الله ، ۱۹۴۷). د پښتنو خیلونو اوسنۍ شجره نسب چې اتبار لري ددې نظریې څخه اوبه اخلي. او د دې نظریې له مخې اسلام د حضرت محمد (ص) د ژوند په وخت کې د جګړې له لارې نه، بلکې د سولې او جرګې له لارې د پښتني کولتور برخه ګرزیدلې او د پښتنو کولتور بې لا پسې بډای او غني کړیدی او هم پاچیان (سیدان) کېدای شي چې همدغه عرب مبلغین و چې جرګې سره راغلي دي او اوس د پښتنو سره نه یوازې ژبني او کولتوري بلکې نسلي وحدت ګرزیدلي دي ځکه چې خپلوي ئې ورسره کړي دي. پښتني ټولنې ته د اسلام د راتګ په نښتون کې د پښتو د اوسني لیک دود یا لیک ډول چې د عربي تورو په بنسټ ولاړ دی عمر اټکل کېدلې شي.

خو دعربی تورو سره که څه هم یو شمیر پښتو توري لکه ړ ، ډ ، ټ او داسې نور یو ځای شوي دي خو د پښتو په اوسني لیک دود یا لیک ډول کې د پښتو ټول غږونه نه راځي. ددې علت دا دی چې په عربي ژبه کې د حرکتونو شمیر کم دی او په پښتو کې زیات دي. دبېلګې په توګه: په عربي ژبه کې پېښ، ځور، سکون او زېر دی خو پښتو ژبه کې د پېښ او ځور تر مینځ ، د سکون او ځور تر مینځ او د سکون او زیر تر مینځ یو بل حرکت شته دی له دی کبله د پښتو په لیکلو کې ستونزې شته دی. دا زمونږ د ژبپوهانو دنده ده چې دا ستونزې له مینځه یوسي او دپښتو لیک دود بشپړ کړي چې د پښتو ټول غږونه پکې راشي.

پښتو د ژبې په توګه

پښتو يوه ډيره توانمنه ژبه ده. د غړونو يا تورو شمير ئې حتى د نړۍ والو پرمختللو ژبو لکه انګليسي او الماني په برتله زيات دى. که څه هم تر اوسه پورى د پښتتو ژبې ټولو ګړونو ته توري نه دي نېول شوي خو د هغه تورو شمير چې اوس د پښتو په عربي ليک دود کې پکارول کېږي ۴۲ ته رسېږي د پښتو په ميخي ليک دود کې لکه څنګه چې پخوا مو ياده کړه ۳۲ توري تر اوسه معلوم شوي حال دا چې دانګليسي ژبې د تورو شمير ۲۲ او د جرمني (الماني) ژبې د تورو شمير ۳۰ دى. پدى حساب د پښتو ژبې توان (ظرفيت) د انګليسي او جرمني ژبو څخه زيات دى ياني د ودى ډير قابيليت لري خو کار ورته نه دى شوي.

د وييو (لغاتونو) او نومونو ټولګه ئې د انګليسي (انګرېزي) او جرمني (الماني) ژبو په پرتله ډيره کمه ده دا ځکه چې انګليسي (انګرېزي) او جرمني (الماني) ژبو ته که څه هم توان (ظرفيت) ئې د پښتو ژبې څخه کم دى، ډېر کار شوى دى او دوييو (لغاتونو) پانګه ئې زياته ده. لنډه دا چې پښتو يوه ډېره توانمنه ژبه ده چې ډډ ئې غټ دى او ډير څه پکې ځائېږي. که چيرته مونږ د ويي (لغات) سرچينه (مصدر)د دانو تخم وګڼو او په مصوره ژبه خبرې وکړو نو د پښتو ژبې نه يوازې د وييو (لغاتونو) تخم زيات دى بلکې د دغه تخم ونه ئې هم غټه ده او ډېرې څانګې لري. مطلب دا دى چې د ويي (لغات) د تخم د يوې دانې څخه ډېرې نوې ويي (لغاتونه) او نومونه جوړيدلې شي.

د پښتو ژبې د ويي (لغاتونو) د پانګې د پراختيا، ودى او سوچه کولو لپاره يو شمير پښتنو ليکوالانو او ژبپوهانو هڅې پيل کړي دي په تېره بيا پوهاند ډوکتور مجارو احمد زيار او لطيف جان بابى او د پښتو ټولنې همکارانو په دې برخه کې د خپلو امکاناتو سره سم اوچت ګامونه اخستي دي.

د دې هڅو پلار محمد ګل خان مومند دى چې په هغه کم شميره قامي مشرانو کې شميرل کيږي چې د افغانستان په بيروکراسۍ کې د وزارت مقام ته د رسيدو سره سره ئې خپلې ژبې او کولتور ته شا کړې نه ده وزير محمد ګل خان مومند ته پته وه. چې ځنې پښتانه د افغانستان د حکومت دا غېزې له کبله په پښتو کې د فارسي ويي (لغاتونو) کاروي سره لدې چې پخپله ژبه کې لري او حتى سوچ ئې هم پردى شوى دى د چاى د څښلو يا سکلو په ځاى د چاى خوړل وايې چې په فارسي ژبه کې پکارول کېږي او « چاى خوردن » ورته وائې. محمد ګل خان مومند د پښتو ژبې ودې او سوچه کولو ته ملا وتړله. پښتو ګرامر او ډېر نور کتابونه ئې وليکل. د ده د اند (کوښښ) په اړ کې پښتو ټولنه په ۱۹۳۷ ع کال کې جوړه شوه (ربښتين په محمد ګل خان مومند کې ، ۱۹۹۵ ع).

او یو شمیر نومونه لکه د شینوارو د « ده بالا » کلي نوم ئې پښتو کړ او « هسکه مینه » ونومول شوه. همدغسې د معلم په ځای ښوونکی او مکتب پر ځای ښوونځی او همدغسې نور په خلکو کې رواج شول. د پښتو ژبې د ودې او سوچه کولو د هلو ځلو په لړ کې لاندینو ټکو ته پاملرنه ضروري ده.

۱) که کومه نوی ویي (لغات) چې ضرورت ورته وي د پښتو د یوې ویي راوتلې شي نو پکار نه ده چې ترکیب ئې د ډېرو ویيو څخه جوړ شي.
۲) همدغسې نړۍ واله ویي لکه کمپیوټر چې په پښتو کې ورته مناسبه ویی نه پیدا کېږي پکار ده چې خپله ونیول شي او پښتو ژبې په قالب کې راوستل شي.
۳) سیمه ایزې (محلي) پښتو ویي (لغاتونه) چې د ژبې د خاص اړخ پورې اړه لري باید ه دې چې عامې شي او په دې توګه د معیاري ژبې برخه وګرزي چې ټول پښتانه پرې وپوهېږي.

پښتو د پښتونولۍ د برخې په توګه

پښتو یوازې د پښتنو ژبه نه ده بلکې د پښتنو د یو لړ صفتونو یا خویونو ټولګه ده چې د پښتونولۍ برخه جوړه وي. مخکې له دې څخه چې پر دې صفتونو رڼا واچوو خپله پښتونولۍ ته لنډه کتنه کوو.

پښتونولي

پښتونولي د جرګو یو اولسي سیستم (نظام) دی چې ډیموکراتیک (جمهوري) خوی لري، جرګه کېدای شي د کورنۍ ، کلي منطقې، قبیلې او قام په سویه مینځ ته راشي د ټول قام په سویه سره جرګې ته لویه جرګه هم وائي ، خو دا جرګې دایمي نه دي موقتي (عرضي) غېر مرکزي او خپلواکه بڼه لري په هره جرګه کې په خپله سویه سره لکه د سټیټ(دولت ، ریاست) په شان مقننه ، عدلیه او اجرئیه قوه راغونډه شوې وي له د ی کبله خپلو پریکړو ته بې له بهرنۍ مرستې څخه دعمل جامې اغوستلې شي د پریکړو د عملي کولو توان د جرګې د ګډون کوونکو د نفوذ د ساحې پورې اړه لری که چیری د جرګې د ګډونکونو د نفوذ ساحه کوچنۍ وي او خپله پرېکړه عملي کولی نه شي نو بیا په جرګه کې نور داسې کسان زیاتېږي چې د نفوذ ساحه ئې د پرېکړو د عملي کولو له پاره بسیا وکړي.
د پښتنو جرګې د هر چا له خوا راغوښتل کېدلې شي او ډیر وخت د کمزوري له خوا او کله کله د پېښو د ضرورت له کبله بې له دې چې څوک ئې راوغواړي مینځ ته راځي او خلق د جرګې له پاره پخپله راټولېږي.د جرګې د ګډون کوونکو څرنګوالي او شمیر د پېښې او لانجې د څرنګوالي پورې اړه لري. جرګه ټولنیزې ، سیاسي او حقوقي پرېکړې کولی شي، په جرګه کې هېڅکله رایې نه اخستل کېږي په هغه موضوع باندې چې جرګه ورته رابلل شوې وي تر هغو خبرې او بحث کېږي چې یوې موافقې ته د ټولو په خوښه ورسېږي او بیا پرې د دوعا لاس پورته شي. کله نا کله جرګه په لانجه کې د برخه والو څخه واک اخلي او بیا د هر اړخ سره بېلې بېلې خبرې کوي، دا خبرې تر هغې دوام لري چې ټولو خواو ته قناعت ورکړ شي او روغې ته راضي شي. د جرګې راغوښتلو او جرګې جوړېدو سربېره جرګه لېږل کېږي هم، پښتانه د جرګې ډیر مخ او خاطر کوي او د ډیر څه نه ورته تېرېږي. پښتونولۍ د پښتنو لیکوالانو سربېره د نړۍ د یو شمېر لیکوالانو پام هم ځانته را اړولی دی او د خپلې څېړني موضوع ئې ګرزولې ده. له دې کبله یو شمیر اروپایي پوهان خبرو ته پرېږدو او بیا پرې لنډه تبصره کوو.

ماکس کلیم بورګ (Max Klimburg) اطریشي پوهان د پښتونولۍ د لاندی د پښتنو یو عنعنوي یا حقوقي سیستم باندی پوهېږي چې تر ټولو ستره قضا (عدالت) ئي جرګه ده او لیکي چې « جرګه » د ازادو ډیموکراتیکو کړو وړو سره سم نه مشر لري او نه د غونډې په وخت کې هر تن له پاره ټاکلي ځایونه وي سړی په ناپېلي ځای کې د هم غاړو کسانو په ډله کې ناست وي او هر څوک هر کله که وغواړي کولې شي چې پاڅېږي خبرې وکړي او لاړ شي. د جرګې د پرېکړو له پاره د رایو ډیر والی شرط نه دی ، هېڅ کله رایې نه اخیستل کېږي بلکه د مخالفو کسانو شتوالی ارزښت لري، د جرګې د پرېکړو عملي کونه د جرګې د ګډون کوونکو مهمه ټولنیزه دنده ده » (Max Klimburg ,١٩68).

همدغسې ویلي کروزی (Willy Krause١٩٧٢) او ځینی نور بهرنی لیکوالان پښتونولي یو حقوقي دود ګڼي. د پورتنیو لیکوالانو دا نظریه چې پښتونولي د پښتنو یوازې حقوقي دود یا سیستم دی مونږ ته بشپړه نه برېښي ځکه جرګه چې د پښتونولۍ تر ټولو ستر مقام دی یوازې حقوقي پرېکړې نه کوي بلکه ټولنیزې او سیاسي پرېکړې هم کوي. د دې خبرې ښه بیلګه دا ده چې پخپله احمد شاه با با په (١٧٤٧ ع)کال کې جرګې باچا کړ. له دې کبله پښتونولي یوازې یو حقوقي سیستم نه شي ګڼل کېدلې بلکې ټولنیز او سیاسي سیستم هم دی د کلیم بورک (Klimburg) دا خبره سمه ده چې د پښتنو جرګه ډیموکراتیک (جمهوري) خوی لري او هر څوک په کې په ازادانه توګه خبرې کولې شي او خپله نظریه څرګندولې شي خو دا چې وائي چې جرګه مشر نه لري په دی هکله پکار ده چې ووایو چې جرګه مشران لري خو دغه مشران د ووټونو (رایو) په واسطه ټاکل شوي نه دي بلکې عنعنوي منل شوي کسان دي د بېلګې په توګه په یوه جرګه کې چې یو قومي مشر ناست وي نو سړی ویلې شي چې دغه جرګه د هغه د مشرۍ لاندې وشوه. ځینې نور پوهان وائي چې د جرګې سیستم چې ډیموکراتیک سیستم دی په پخوانیو قبیلوي ټولنو کې غېرې طبقاتي موجود وو خو کله چې طبقاتي ټولنې او سټیټ مینځ ته راغی نو دا سیستم هم ختم شو. په دی نښتون کې انګلس (Engels) دا یروکیزن (Irokesen) د سینکاس (Senekas) قبیلې ته ګوته نیسئ دغه قبیله د حیواناتو د نومونو په بنسټ په اتو خېلونو ویشل شوې وه چې هر خېل یوه جرګه لرله چې بالغو نرانو او ښځو په کې د رایو مساوي حق لرلو ، دغې جرګې د سولې او جګړې مشران ټاکلې او لېرې کولې شول. که ځیر شو نو وبه وینو چې د سینکاس (Senekas) د قبیلې جرګه چې د طبقاتي ټولنې په مینځ ته راتګ سره له مینځه لاړه د پښتنو د جرګې دموجوده بڼی سره توپیر لري او هغه دا دی چې سینیکاس (Senekas) قبیلې په جرګو کې د پښتنو د جرګو پر خلاف رایې اخیستل کیدلې او دایمي مرکزي بڼه ئې لرله او کټ مټ سټیټ (State) ته ورته وې . کله چې په طبقاتي ټولنه کې په جګه سویه سټیټ مینځ ته راغی نو دغه جرګې ئې هم له مینځه یوړې ځکه چې په جګه او غوره سویه تنظیم په ټیټه سویه سره د هماغه شان تنظیم ځای نیسي او له مینځه ئې وړي.

خو د پښتنو جرګې د سټیټ یا هیواد په برخلاف غیرې مرکزي خپلواکي او موقتي بڼه لري او یو بشپړ ولسي ډیموکراتیک (جمهوري) سیستم دی چې د پښتني ټولني ټولې ربړې حلولې شي. او له دې کبله ئې سټیټ ځای نه شي نیولې بلکې برخلاف لویه جرګه چې د قام د ارادې ښکارندویه ده سټیټ جوړولې شي . هیڅکله سټیټ او یا پارلیمنټ چې د سټیټ یوه برخه ده او یوه دایمي جرګه ده د لوی جرګې ځای نیولې نه شي. پښتونولي د پښتنو قامي یا ولسي نظام دی چې د یوه کول څخه بل کول ته لیږل کیږي د پښتونولۍ د زده کړې ځایونه کورنۍ ، حجرې یا دېرې او پښتني ټولنه ده. د پښتونولۍ زده کړه د ځیږېدو راهسې په کورنۍ کې پېل کیږي او ټول عمر دوام لري. مشران او سپین ږیرې چې د پښتونولۍ په زده کړه کې تر ټولو جګ پړاو ته رسېدلي وي. د پښتونولې ساتندویه دی. پښتانه د پښتونولۍ سره کلک تړون لري خپلې د ژوند چارې د جرګو له لارې سموي پښتونولۍ ځان ژغورونکی خوي لري او د بهر نه په ځان کې ګوتې وهنه نه مني. ددې خبرې علت د پښتونولۍ په بشپړوالي (مکمل توب) کې پروت دي چې د پښتنو د ژوند ټولې ربړې او چارې پخپله سمبالولې شي او دبهر مرستې ته اړتیا نه لري.

د پښتونوالۍ فلسفي بنسټ : پښتونولۍ پوخ فلسفي بنسټ لري چې په دې لاندې لړونو ولاړ دي.

۱) پښتو : په پښتني ټولنه کې د پښتو ویلو یا لیکلو چې د ژبې پورې اړه لري او د پښتو کولو تر مینځ توپیر کیږي چې د پښتونولۍ پورې اړه لري او د یو شمیر صفتونو ټولګه ده لکه: پت، ښېګړه ، توره ، وفا، ورورولي، ننګ، میلمه پالنه، میړانه ، غیرت ، انصاف ، پنا ورکول، دروغ نا روغ پوښتنه او په ښه بده کې ګډون ، د ژوند په چارو کې د مشرانو او دوستانو سره سلا مشوره او داسې نور. دا صفتونه هر پښتون که موړ وي که غریب بایده دي چې وئې لري د پښتنو بابا خوشحال خان ختک هم همدا خبره تائیدوي چې وائې

درست پښتون د قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار

(دخوشحال خان ارمغان، بې کاله)

پښتو د پښتنو ګډه ښکلاده چې د پښتو یوه برخه ده د هر پښتون ښایست دی او هیڅ پښتون په دې ښایست کې له بل نه کم نه دی.د پښتونولۍ ډیموکراتیک (جمهوري) خوی یا خاصیت په پښتو کې یانې په دې صفتونو کې پروت دي، چې ټول پښتانه په کې مساوي دي.

۲) دودونه یا نرخونه: دودونه یا نرخونه یو ډول ولسي قانون دی چې د وخت په اوږد و کې د جرګو د پرېکړو په نتیجه کې مینځ ته راغلي وي.
کله چې د یوې جرګې پرېکړه د بلې جرګې له خوا ومنل شي او یا مختلفې جرګې په یوه لانجه کې په ناپیلې توګه یو شان ته پرېکړه وکړي نو د وخت په تیریدلو سره دود (دستور) نرخ ګرځي. د پښتنو د دودونو شمیر ډیر زیات دی چې ټول ئې ځانته کتاب جوړوي. مونږ ئې دلته یوازې یو شمیر مهم را په ګوته کوو.

سوله او روغه : سوله د څه مودې له پاره د دواړو خواو تر مینځ د جګړې بندیز ته وائې چې د جرګې له خوا لګول کېږي او ټاکلې ناغه (جریمه) پرې اېښودل کېږي چې کوم اړخ ئې مات کړي د هغه څخه اخیستل کیږي. روغه بیا دایمي جوړې او پخلاینې ته وائې ، ټولې پخوانۍ لانجې حل او وروروَلي بیرته مینځ ته راشي.

ننواتې: کله چې سړی ځان پړ(ملامت) ګڼي نو مقابل اړخ ته ننواتې ورځي او بښنه غواړي. د ننواتې منل د پښتنو یو غوره صفت دی او د مړي له بدو هم تیریږي. په ننواتې کې زیات پښتانه د ځان سره پسونه هم بیایي او بیا ئې هلته حلالوي او یا د ځان سره قران شریف او ښځې بیا ئې ځکه چې پښتانه د ښځو پړوني ته په درنه سترګه ګوري او خامخا ئې بښنه مني.

برمته: که څوک په یوه کلي کې په چا پور لري او نه ئې ورکوي نو د پور خاوند د پوروړي د کلي کسان او یا مال نیسي تر هغو ئې نه ورکوي چې د ده پورئې نه وي ورکړی ډیرې برمتې بیا د جرګو او مرکو له لارې فیصله کیږي.

تړه او تړون: کله چې یو بهرنې دښمن په یو ځاي یرغل کوي نو دلته ټول ولس را ټولیږي پخپل مینځ کې یو تړون او پریکړه کوي او په ګډه د یرغل مخه نیسي.

چغه: کله چې یوه کلي کې په چا دښمن داړه وکړي نو د کلي ټول خلک د وسلو سره راوزي او د باندیني خطر مخه نیسي.

اشر (پګړه): کله چې د یوه تن له وسه د لنډ وخت درونډ کار لکه غوبل یا کوهی کندل پوره نه وي نو د کلي خلک د مرستي لپاره راغواړي هغوی ورسره مرسته کوي او دی به ئې میلمه پالنه کوي.

ټوله (ښبڼه، ښندنه): که چا ته د کوم مصیبت له کبله تاوان ورسیږي نو د کلي خلک او خپلوان ئې ورته پیسې راټولوي چې خپل کار پرې بیرته روان کړي.

تیګه: حدبندي او بنسټ ایښودلو ته وائي جرګه دواړو خوا ته خپل حد معلوموي چې تر ېنه به اوړي او د تیګې په ماتولو ناغه (جریمه) لګوي.

۳) پیغور او بدل: د پیغور په واسطه د پښتنو پښتو (صفتونه) په پوښتنه کې اچول کیږي او پښتانه د بدل اخیستلو ته ملا تړي. بدل ډیر ډولونه (قسمونه) لري کله کله د روغې په حالت کې د مړي په بدل کې ښځې ورکول کیږي چې « سوره » ورته وائي او خپلوي مینځ ته راځي او یا د قاتل له پرې (ډلي) له خوا یو تن ورته په ګوته کیږي چې ده ستاسو کس وژلی دی او « کشنده » ورکول کیږي چې همدا وژلی شي او بدل به ئې نه اخیستل کیږي. « کشنده » بیا پټ ګرځي او یا چیرته بل وطن ته تښتي او هلته خپل سرپه امن کې کوي. (پرتله کړئ : پښتني دودونه ، ۱۹۵۷ رښتین ، ۱۹۱۴).

د پښتنو نسل او نسب

د پښتنو د نسل په هکله درې متضادې نظريې شته دی چې لنډه کتنه ورته کيږي.

۱) د پښتنو د بني اسرائيلو د نسل نظريه : د دې نظريې له مخې پښتانه بني اسرئيل دي او د هغه دولس قبيلو څخه دي چې د بابل نه راوتلي دي او په خاصه توګه د خالد بن وليد چې د اسرائيلو سردارؤ او په غور کې د اوسيدونکو بني اسرئيلو مشر قيس « عبدالرشيد » ته ئې لور ورکړې وه اولاد دی. د پښتنو اوسنۍ شجره نسب هم قيس عبدلرشيد ته رسول کيږي (قاضي عطا الله خان ، ۱۹۴۷) دا نظريه په تاريخي طريقو (ميتودونو) ولاړه ده او د نعمت الله هروي چې د مغلو د پاچا جهانګير په دربار کې پېښن ليکوونکی و په مخزن افغاني نومي کتاب او ځينو نورو حواله ورکول کيږي . قاضي عطاالله خان د دې نظريې لنډيز په دې تورو کوي : د پښتنو مورخينو په خيال کې پښتانه بني اسرئيل دي . د پښتنو عام عادتونه، شکل شباهب او طرز معاشرت هم د بني اسرئيلو په شان دي. او دا وخت هم د پښتنو په ملک کې د ځينو کلو او غرونو نومونه د بني اسرئيلو د کلو او غرونو د نومونو په شان دي لکه خيبر چې د عربو په ملک کې د يهوديانو د استوګني يو مشهور ځای و، د پښتنو په وطن کې هم د افريدو او د شينوارو وغيره و د يوې علاقې نوم دی. صدوم چې د قوم يوسفزايي د يوې علاقې نوم دی. هم په دی نوم د بني اسرئيلو يو ښار مشهور و دغه شان لفظ « جليل » او « جلاله » د ګکليلي نه راوتي دي چې د فلسطين د يو مشهور جهيل نوم دی. دغه شان کوه سليمان، د سلمان عليه السلام چې د يهوديانو لوی باد شاه او پيغمبر و، په نوم باندې مشهور دی، عربو په ابتدا کې پښتنو ته «سليماني » ويل ، پښتنو د خپل ځان لپاره هميشه پښتون لفظ استعمال کړی دی (قاضي عظاالله خان ، ۱۹۴۷) د پښتنو پخوانيو تاريخ پوهانو د نعمت الله هروي نظريه خپله کړې وه سيد بهادرشاه ظفر کاکا خيل چې د دې نظريې په نقادانو کې شميرل کېږي هم دا خبره مني او ليکي چې : « دې نظريې د درې ، درې نيم سوو کالو راهسې په پښتنو کې يوې منلې شوې عقيدې حيثيت اختيار کړی، او دنن نه څه ځلوېښت پنځوس کاله اګاهو ټول پښتانه د افغانستان استوګن وو او که د پاکستان، هم په دې نظريه متفق و. اوس هم په پښتون ولس د عمومي کليې په ډول دا خبره مشهوره ده چې پښتانه د خالد بابا اولاد دی. (ظفر کاکا خيل ، ۱۹۶۵ ع). په اوسنۍ وخت کې د رويټر (Reuter) د خبر رسولو اژانس د يوه خبر له مخې چې د دوه زرم عيسوي کال د اګست د مياشتې په ۲۱ نېټه د ميګن ګولډن (Megan Goldin) له خوا خپور شوي دي.

ويل شوي دي چې د اسرائيلو له اړخه په يوه څېړنه کې چې د اسرائيلو د قبيلو په باره کې چې ۲۷۰۰ کاله د مخه ورکې شوې دي رابيلياهو اويخل (Rabbieliyahu Avichail) له خوا شوی ده راپه ګوته شوې ده چې پښتانه په افغانستان او پاکستان کې د بني اسرائيلو ورکې شوې قبيلې دي (پرتله کړئ د دې کتاب په پای کې د رويتر (Reuter) خبر.

د پښتنو دارياېي نسل نظريه : دا نظريه د ژبپوهنې څخه اوبه اخلي په ژبپوهنه کې د ژبې او نسل تر مينځ دا اړيکي په دې سوچ ولاړ دي چې د هر نسل خلک لومړی په يو ځای کې استوګن وي چې يوه ژبه لري کله چې نورو ځايونو ته لاړ شي نو بيلې بيلې ژبې مينځ ته راځی چې د لومړنۍ ژبې خويونه (خصوصيات) پکې يوه اندازه پاتې کيږي. لدې کبله ځينې ژبپوهان وائې چې هغه ژبې چې يو بل ته ورته والی او مشابهت لري د يوه نسل د ژبې پورې اړه لري. د ځينو ژبپوهانو په خيال اريا په نامه يو نسل په باختر کې استوګن و چې يوه ژبه ئې لرله چې د « ريک » په نامه يادېده. دا ژبه اوس بيخي ورکه ده. دارياو څه برخه باختر کې پاتې شوه. يوه برخه د ايران او هند په لور ، بله برخه ئې د يورپ په لور لاړه (ظفر کاکا خيل ، ۱۹۶۵) . چې دوه ژبې مينځ ته راغلې چې يوه « سانسکرت» او بله د « زند» په نامه يادېده. په دې دواړو ژبو کې مذهبي کتابونه ليکل شوي دي او ـ زند ـ هغه ژبه ده چې پکې د پارسيانو مقدس کتاب ـ اوستا ـ ليکلی شوی دی (قاضي عطاالله خان ، ۱۹۴۷). په همدې بنياد ځينې اروپايي پوهانو اريايي ژبې په دوو ډلو ويشي چې يوې ته ئې د ژبې هندو جرمني (Indo German) او بلې ته ئې د ژبې ايراني (Irani) ډله وائې ځينې ژبپوهان د پښتو سره د « ويد » او « اوستا » د کتابونو د ژبو د ټکو د پرتلې (مقايسې) په بنسټ وائې چې د ځينو ټکو ئې د پښتو سره ورته والی او مشابهت شته دی. له دې کبله پښتو هم د اريايي ژبو په ډله کې ده او پښتانه د اريا د نسل څخه دي. ځينې ئې د « اوستا » سره په مشابهتونو زور اچوي او پښتو زړه پاړسو ګڼي ځينې ئې بيا د « ويد » سره په مشابهتونو او ورته والي زور اچوي او « اندو ژرمن » ژبو د ډلې پورې ئې تړي او ځينې ئې د « کوردي » ژبې سره نژدې والی ښايي چې « اندو ژرمن » د ژبو په ډله کې شميرل کيږي ځينې نور بيا وائې « چې پښتو ژبه يوه مستقله ژبه ده او دډيرې مودې نه د « سانسکرت » او « زند » سره په ګاونډ او ژور تعلق کې پاتې ده » (ظفر کاکا خيل ، ۱۹۶۵). د ژبپوهنې د دې لارې (ميتود) چې د ژبو تر مينځ د مشابهتونو په بنياد د نسل پېژندګلوي کوي کمزورې پدې کې پرته ده چې د ورته والي او مشابهتونو په بنياد قضاوتونه تل سم نه وي. همدا خبره د هغه ليکوالانو لپاره اعتبار لري چې وايي په پښتنو کې د يونانيانو ، مغلو او ترکانو نښې دي او د هغوې سره مشابهت لري يا ئې د هغوي پورې تړلي او يا ئې ګډوله ګڼي (ظفر کاکا خيل ، ۱۹۶۵).

دا سې سوچونه پوهنيز بنسټ نه لري او کيدی شي د دې واقعيت څخه ئې اوبه اخيستې وي چې پښتانه د لارې په سر پراته دي او ډير ير غلګر په دې لاره تير شوي دي او دلته به پاتې شوي وي.

د پښتنو د مستقل نسل نظريه : ځينې ليکوالان لکه چې د ژبې په برخه کې هم راپه ګوته شول، پښتانه د کوم بل نسل پورې تړلي نه ګڼي او ځان ته مستقل نسل ئې ګڼي چې د لومړي سر راهسې د غور په غرونو کې اوسيږي (قاضي عطاالله خان ، ۱۹۴۷).

د پښتنو د نسل په هکله د نظريو ډيروالی د دې هڅې نه خالي نه بريښي چې د پښتنو د نسل او نسب پيژند تورتم شي. د نظريو په مينځ ته راتګ کې پوهنيز دود دا دی چې سړی پخوانی نظريه چې د يو څه يا شي په باره کې وي غلطه په ثبوت رسوي، او بيا خپله متبادله نظريه وړاندې کوي يا ئې سمه په ثبوت رسوي او دخپلې څيړنې بنسټ ئې ګرځوي. دلته پوهانو او څيړونکو پوهنيز دود ته پاملرنه نه ده کړې او بيلې بيلې نظرې ئې يوه د بل څخه په ناپېيلې توګه وړاندې کړي دي، صرف ظفر کاکا خيل د دې هڅه کړې ده چې پښتنو د بني اسرائيلو د نسل په نظريه دتورات او اسلامي تاريخ په حواله سره انتقاد وکړي. خو دا ئې نه دي ويلي چې تورات ئې په کومه ژبه لوستلی او هم ئې کومه متبادله سمه نظريه نه ده وړاندې کړې چې د پښتنو د نسل پوښتنه روښانه کړي او د پښتنو د بني اسرئيلو د نسل نظريه په بنسټي توګه غلطه ثبوت کړي. په هر ډول سره مونږ په دې هکله زيات نه غږيږو او داخبره خپله تاريخ پوهانو او ژبپوهانو ته پريږدو چې سره کيني د پښتنو د نسل خبره سپينه کړي د قام حق ادا کړي او خپله زمه واري پوره کړي.

پښتونولي او اسلام

د هغه وخت راهسې چې پښتانه مسلمانان شوي دي او اسلام د پښتونولۍ سره يو ځای شوی دی نو د وخت په اوږدو کې يو په بل باندې اغېزه کړې يو بل ئې بشپړ کړي دي، اسلام پښتو او پښتو اسلام ګرځېدلی دی ، بې ايمانه بې غيرته ګڼل کېږي. پښتونولی او اسلام د پښتنې ټولنې دوه پښې او بنسټ دی، توپير ئې د پښتنو په ژوند کې د ټولنيز کېدلو د لړۍ په نښتون کې کېدلی شي. د ټولنيز کېدلو لړۍ چې د زده کړې په بنسټ ولاړه ده دوه برخې لري چې يوې ئې لومړنۍ ټولنيز کېدنه (Primary Socialisation) او بله ئې دويمه ټولنيز کېدنه (Secondary Socialisation) نومېږي. دا هره برخه بيا ډېر پړاونه لري ، لومړنۍ ټولنيز کېدنه له زېږېدو څخه وروسته سمدستي پيل کېږي او تر هغو دوام لري چې ماشوم ښوونځی ته د تګ شي، دويمه ټولنيز کېدنه ئې پاتې برخه په غيږ کې نيسي پښتونولي د لومړۍ او دويمې ټولنيز کېدنې پورې اړه لري. او اسلام په دويمه ټولنيز کېدنې پورې. د دې علت د اسلام مکلفيت په اصولو کې پروت دی چې ماشوم ئې تر بلوغه پورې نه لري. هغه ارزښتونه، خوی او خاصيتونه چې انسان ئې د لومړۍ ټولنيز کېدنې به ترڅ کې خپلوي د دويمې ټولنيز کېدنې څخه غښتلي دي . همدا علت دی کله چې د دوه ارزښتونو تر مينځ تضاد راشي نو د لومړنۍ ټولنيز کېدنې ارزښت ته امتياز ورکول کېږي.

ژبه او قام يا ولس

ژبه د قام د ژبې په مېنځ ته راتګ او وده کې مهم رول لوبوي. د ژبې په بنسټ قامونه يو له بل څخه بېلېږي او توپير ئې کېږي. د ژبې په واسطه قامونه پېژندل کېږي او د قامي پېژند (قامي تشخص) نښه ده. باچا خان چې هره خبره ئې د کاڼي کرښه ده په دې نښتون (ارتباط) کې ويلي دي چې « د يو قام ژبه چې ورکه شي هغه قام ورک شي» او قامي پېژند ئې ختم شي. همدا خبره يو تن افريقايي ليکوال دانيل ميپن (Daniel Mepin) کوي چې د ١٧ کلونو راهسې په جرمني کې د کامرون (Kamerun) د سفارت د کولتوري څانګې مشر و. ده خپل کتابونه په جرمني ژبه چې د خپلې دندې په وخت کې ئې زده کړې وه، ليکلي دي په کامرون (Kamerun) کې فرانسوي او انګليسي دواړه رسمي ژبې دي او کومه خپله ژبه ئې نشته دی.

دانيل ميپن (Daniel Mepin) وائي چې « زه پدې ټينګ باور لرم چې کله چې د يوې ډلې يا قوم ژبه مړه شي نو قام مړ کېږي هغه قام نور بيا موجوديت نه لري ځکه چې ژبه د پېژند (Identity) مهمه برخه ده که چيرته په کامرون (Kamerun) کې د ژبې يوه ډله يوازې سل تنه ولري نو پکار دي چې سړی دې ټولې هڅې وکړي چې ژبه ئې وژغورل شي او که نه نو بيا د ولس ددې کوچنۍ برخې پېژند هم له مېنځه ځي (Mepin Jeppeser, 2000).

هر څومر چې يو قام پر مختللی وي هغومره ئې ژبه هم پر مختللې وي په دې نښتون (ارتباط) کې قام يا ولس ته ځغلند ه کتنه کېږي.

قام يا ولس : په ځينو سياسي ادبياتو کې ولس د ټولنې هغه برخې ته وايي چې په پيداوار (توليد) کې سيده برخه ولري. خو په نړۍ والو سياسي ادبياتو کې قوم يا قام (Nation) او د ولس (Folk) لفظونه په يوه مانا سره کارول کېږي. مونږ هم دا دواړه لفظونه په يوه مانا سره کاروو او د قام يا ولس د پېژند ګلوی له پاره مختلفې نظريې نه راغونډوو بلکې د محمد افضل خان (خان لالا) د قام يا ولس د مېنځ ته راتګ په راسپړېدنه (تحليل) بسيا کوو. محمد افضل خان (خان لالا) د قامونو مېنځ ته راتګ راسپړي (تحليلوی) او قام د جوړيدلو پيل په يوه جغرافيايي محدوده کې ويني او وائي چې د ځمکې په سر مختلف پيدا اېښتی (قدرتي، فطري) وحدتونه شته دی او زياتوي چې « د فطرت غوښتني د جغرافيايي وحدت پورې محدودی نه دي. خبره نوره هم په مخه ځي دا جغرافيايي وحدت د ځمکې د جوړښت او نورو ډېرو عواملو په اشتراک عمل، يوه خاصه ژبه او کولتور وجود مومي. دغه ژبه او دغه کولتور په ډېره اوږده موده کې د هيواد جغرافيايي خدوخال نه خپل وجود پيدا کوي .شريک کولتور خلق راغونډ کړي. غونډه، ناسته پاسته، دود، دستور پيدا کوي.

دا سې ورو ورو په غير شعوري ډول يو کولتوری وحدت پيدا شي چې کله دغه کولتوري وحدت په جغرافيايي وحدت پورې خپل اړيکي مضبوط کړي . خبره نور هم په مخه لاړه شي ، فطرت په دغه جغرافيايي وحدت کې د اوسيدونکو د ټولو اړتياو بندوبست کوي.

او د پيداوارو منابع د ولس له ضروورياتو سره سمې موجودې وي. د دغه منابعو ادراک او ضروريات چې سره يو شي نو اقتصاد مينځ ته راوړي. د قامي او انفرادي شتمنيو تصور پيداشي. په ټولنه کې اقتصاد خپلې جرړې مضبوطې کړي، داسې جغرافيايي وحدت ، يو کولتوري او اقتصادي وحدت شي. هر کله چې د شتمنيو د ملک تصور پوخ شي او شعور وده وکړي، نو د درې اړخيزې وحدت د ساتنې ، دفاع او انتظام اړتيا ، سياست مينځ ته راوړي. درې اړخيزی وحدت چې کله سياسي وحدت بيا مومي نو د يوقام د تشکيل عمل سر ته ورسيږي. داسې ګويا قام هغه دی چې په يو جغرافيايي ، کولتوري، اقتصادي، او سياسي وحدت کې پيرلي شوي وي (محمد افضل خان ، ۱۹۹۴). پدې راسپړيدنه (Analyses) کې نه يوازې د قام يا ولس مينځ ته راتګ بلکې د قامي ودې ټول پړاوونه او اړخونه راپه ګوته شوي دي اود بشپړ او پرمختللي قام يا ولس تصوير دی.

او په دې توګه په نړۍ وال قانون د قامونو يا ولسونو د خپلواکۍ (Self Determination) د حق فلسفه او بنياد هم روښانه کيدلی شي. د نړۍ وال قانون يا حقوقو له مخې قامونه يا ولسونه د دې حق لرئ چې د خپل ژوند چارې که اقتصادي ، که پوځي که پوهنيزې يا نورې وي خپله سمبال کړي . سياسي وحدت د حکومت په څهره کې راڅرګنديږي چې د حاکميت يو ټاکلی جغرافيايي محدوده لري چې د ملک يا هيواد په نامه ياديږي. په يوه ټاکلي جغرافيايي محدوده يانې ملک يا هيواد کې د حاکميت نظام ته سټيټ (دولت يا رياست) وائي. د حاکميت دا نظامونه د ځواک د سرچينې له مخې توپير پيدا کوي. د ډيموکراتيکو (جمهوري، ولسوليزو) نظامونو د ځواک سرچينه ولس يا قام دی چې د قام يا ولس د ټاکل شوو وکيلانو يا نماينده ګانو څخه د جوړې شوې جرګې چې د ولسي يا قامي جرګې د (پارلمان يا اسمبلې) په نامه ياديږي په وجود کې اغيزه کوي . د ولسي يا قامي جرګې له غړو څخه حکومت مينځ ته راځي. غيرې ډيموکراتيک نظامونه نورې مختلفې سرچينې لري چې دلته زمونږ د بحث موضوع نه ده .

که چيرته مونږ پښتني ټولنې ته نظر واچوو اوليرې لاړ نه شو نو وبه وينو چې د احمد شاه بابا (۱۷۲۲ - ۱۷۷۲ع) په وخت کې د پښتنو قامي وحدت بشپړ و او ټول په يوه سياسي نظام، سټيټ يا رياست (دولت) کې راټول و چې په ۱۷۴۷ ع کال کې جوړ شوي او پوله ئې د هند د نيمې وچې د غټې برخې راتاو شوې چې د احمد شاه دوراني د امپراطورۍ په نامه ياديده (پرتله کړۍ هغه وخت نقشې چې ددې کتاب په پای کې ليدل کيږي).

افغان او پټان هم د پښتنو نومونه دي چې د بهرنیانو له خوا ورته ویل شوي دي (افغان د فارسیانو له خوا او پټان د انګریزانو او هندوانو له خوا).
په دې هکله قاضي عطاالله خان لیکي چې « مستندو تاریخونو کې لفظ (افغان) د پښتنو د قوم لپاره اول ځلې د سلطان ابوسعید مرزا (۱۳۱۶ سنه) په زمانه کې مورخینو استعمال کړی دی. او عام طور با ندې دا لفظ د پښتنو لپاره د شاه عباس اعظم (چې د ایران یو لوی بادشاه په ۱۵۸۷ سنه کې تیر شوی دی) په زمانه کې استعمال شوی دی « (قاضي عطاالله خان ۱۹۴۷). د خان لالا محمد افضل خان د وینا له مخې پښتون اصل او نور نومونه رنګونه دی» ګنډا سنګ (Ganda Singh) لیکي چې احمد شاه بابا « ټولې پښتو ویوونکې قبیلې سره راټولې او حتا د ایماقو او بلوڅو زیږیدلي پښتانه ئې د خپل نوي دولت په بیلا بیلو ولایتونو کې میشته کړل» (ګنډا سنګ ، ۱۹۸۷). پښتون ولس تل خپل پیدا ایښتي جغرافیایي وحدت (وطن، ټاټوبی) ته پښتونخوا او خپل ځان ته پښتون ویلي دی، د دې خبرې ګواه خپله احمد شاه بابا دی چې کله ئې ډهلی ونیو نو بیا ئې دا شعر وواېه:

د ډهـلـي تـخـت هـیـرومـه چـې رایـاد کـړم
زمـا د ښـکـلـې پـښـتـونـخـوا د غـرو سرونـه

خوشحال خان بابا هم وائي:

نـوره واړه پـښتونـخـوا پـه ځـای پـرتـه ده
یـو دا زه دې زمـانـې پـکـې مـنـصور کـړم

(ارمغان خوشحال خان ، بې کاله).

لنډه دا چې پښتانه بشپړ قامي وحدت و او په یوه ستېټ (ریاست، دولت) کې راټول و خو بیا وروسته په ۱۸۹۳ ع کال کې د ښکیلاکي مناسباتو په لړ کې پښتانه په برخو وویشل شو چې اوس په دوه ستېټونو (هیوادونو یا ملکونو) کې چې افغانستان او پاکستان دی اوسیږي خو د پښتنو ددې دواړو برخو تر منځ قامي اړیکي نه دي شکیدلي دا ځکه چې پښتانه د نړۍ په لرغونو قامونو کې شمیرل کیږي چې اړیکې ئې د خپل پیدا ایښتي (فطري، قدرتي) جغرافیایي محدودې (وطن) او خپل کولتور (پښتونولي سره د پیړیو محصول دی چې ډیر غښتلي او نه شلیدونکي خوي لري. دپښتنو دا قامي اړیکې د دواړو هیوادونو د ګډ کار بنسټ ګرځېدلی شي.

د پښتنو د قامي وحدت د بيا بشپړتيا نظريه

د پښتنو د قامي وحدت د بيا بشپړ تيا د نظريې مهندس باچا خان (۱۸۹۰-۱۹۸۸ع) دی. باچا خان د پښتنو د قامي وحدت د بيا بشپړتيا لپاره د سولې (عدم تشدد) لاره غوره کړه او خپله مبارزه ئې د سولې د خوځښت (Peace Moment) په بڼه (شکل، څېره) کې په ۱۹۲۹ ع کال کې پيل کړه چې د « خدايي خدمتګارو د تحريک » په نامه ياديده چې په پښتنو کې ئې ستره بيداري راوسته، خو مونږ د باچا خان د سولې د خوځښت په هکله نه ګړېږو [۱] بلکې ددې خوځښت (تحريک) مخالف اړخ ته ځغلنده کتنه کوو.

---

[۱] څوک چې غواړي د باچا خان د سولې د خوځښت څخه خبرول غواړي هغه کولی شي چې د باچا خان خپل کتاب چې « زما ژوند او جدو جهد» نوميږي او ۱۹۸۳ ع کال کې په کابل کې چاپ شوی دی او يا د « باچا خان او خدايي خدمتګاري» د نامه لاندې کتاب چې خان بابا ولی خان په څلورو ټوکو کې ليکلی او په پېښور کې چاپ شوی دی ولولي.

د پښتنو د قامي وحدت د بيا بشپړ تيا ښکاره دښمن پيرنګی و چې پښتانه ئې ويشلي و او پټ دښمن ئې د ظاهر شاه باچاهي نظام و. د دې خبرې ثبوت زيات څه ته ضرورت نه لري. يوازې د ظاهر شاه لنډې پيژندګلوی (بيوګرافی) ته لنډ نظر اچول په کار دي ظاهر شاه په ۱۹۱۴ ع کال کې پيدا شوی او په ۱۹۳۳ ع کال کې باچا شوی ۴۰ کاله باچاهي ئې کړې او په ۱۹۷۳ ع کال کې له باچاهۍ څخه ليرې شو چې اوس د ايتالی په روم کې اوسيږي.

ظاهر شاه نسلي پښتون و خو د خپلې ژبې او کولتور څخه باالکل پردی شوی و په پښتو هيڅ نه پوهيده او فارسي غږيده. ده په خپله ۴۰ کاله باچاهۍ کې د دی هڅه هم نه ده کړې چې خو ټکي پښتو ياده کړې حال دا چې په افغانستان کې د ټول مېشته لږه کيو قومونو (ازبکو،ترکمنو، تاجکو، هزاره ،او داسي نورو) له مجموعې څخه پښتانه زيات ؤ که د ظاهر شاه د باچاهۍ وخت په پام کې ونيسو نو په دغه وخت کې په نړۍ کې ستر بدلونه راغلي دي چې د پښتنو د قامي وحدت په بشپړتيا بې اغيزې نه و. دويمه نړۍ واله جګړه پای ته ورسيده د ملګرو ملتونو موسسه (اقوام متحده) جوړه شوه انګلستان د هند دنيمې وچې څخه وتلو ته مجبور شو.هند او د پاکستان اسلامي جمهوريت په ۱۹۴۷ ع کال کې جوړ شو. د پښتون قام نيم وجود د پاکستان په اسلامي جمهوريت کې پاتې شو. سمه لار خو دا وه چې افغانستان او د پاکستان اسلامي جمهوريت يو بل ته نژدې شوي وی چې دواړه اسلامي هيوادونه و او ډير څه نور ئې هم سره شريک و.

خو ظاهرشاه یو دوه مخی سیاست پیل کړ. له یوې خوا ئې د پښتنو ویش ومانه او په پاکستان کې ئې سفارت او قونسلګري جوړه کړه او له بلې خو ئې ورسره د ښمني راواخیسته او ویل به ئې چې په پاکستان کې د دیره پښتنو یانې یوې برخې پښتنو حقوق غواړو چې د پښتونستان په نامه ځانته ملک جوړ کړی او افغانستان نه بیل وي.

په دې توګه ئې دا پوښتنه چې د کورني سیاست پورې ئې اړه لرله د بهرني سیاست برخه وګرزوله او د اساسي قانون یا ائین د بهرني سیاست په برخه کې ئې ولیکل د پاکستان د اسلامی جمهوریت سره د ښمني او د پښتونستان لفظ نه یوازې د پښتنو د ویش د ټینګولو او د پښتنو د قامي وحدت په ضد ؤ بلکې په افغانستان کې د پښتنو د ټکولو وسیله هم وه.

په قام پرسته پښتنو به تورونه لګول کیده چې د پاکستان سره لاس لري او پاکستانی دي او په دې نامه به ځورول کیده. حتی پخپله پښتو ژبه به د پېښور د راډیو د اوریدلو څخه بنده وه زما په یاد دې چې مونږ د کونړ په ولایت (صوبه) کې چې په هغه وخت کې پکې راډیوګانې ډېرې کمې هم وي د پېښور د راډیو د پښتو د خپروني د اوریدلو اجازه نه لرله او پټه به مو اوریدله. ظاهرشاه په ځای ددې چې د پاکستان سره ئې دوستي ټینګه کړی وی چې د پښتنو (افغانانو) د یوالي په لور ګام و. فارس یا ایران سره خپله دوستي دومره پخه کړه چې خپل دربار ئې د فارسیانو نمانیده ګی وګرزوله او د دنني ښکیلاک بنه ئې غوره کړه. ملک ازاد و خو ولس ئې محکوم و.

له پورتنیو حقایقو څخه جو تیږي چې د پښتنو د قامي وحدت د بشپړتیا او د باچا خان د سولې د خوزښت تر ټولو غټ پټ (مخفي) دښمن د ظاهرشاه نظام و ځکه چې هغه د پښتنو په قامي وحدت کې خپل زوال لیده.

د شوروی اتحاد او بلاکونو له ړنګېدو ورسته په نړۍ کې د ویشل شوو قامونو دبیا یووالی لپاره شرایط ښه شوي دي. یو شمیر قامونو خپل قامي وحدت بیرته راوستو او ځینې نور قامي وحدت ته د بیرته رسیدلو په هڅه کې دي. همدا خبره د پښتونخوا لپاره اعتبار لري چې نور د نړۍ والو ځواکونو د مقابلې ډګر نه دی او د پښتنو د بیا قامي وحدت په لاره کې کوم نړۍ وال خنډ نشته دی له بلې خوا د تخنیکي ودې او ګلوبالیزیشن(Globalisation) په لړ کې نړۍ د خپلو اقتصادي ګټو له مخې په کوچنیو او غټو وحدتونو ویشل کیږي. نه یوازې د پښتنو د قامي وحدت ښکاره او پټ دښمنان له مینځه تللی بلکې نړۍ وال خنډونه هم هوار شوي . او د پښتنو بیا یووالی په یوه غټ یا کوچني چوکاټ کې امکان لري. خو دا زمونږ څخه نوی ، پراخ او اوچت سوچ (اند ، فکر) غواړي چې خپل سیاست د منطقې په سویه مخ په وړاندې بوزو. په دې لړ کې د حکومتونو او قامونو په مینځ کې توپیر پکار دی حکومتونه بدلیږي.

قامونه پاتي کيږي د قامونو تر مينځ ښه ګاونډيتوب د سيمې د هوسا يې او ابادۍ ښنبه ده. د يو قام غښتلتوب او سرلوړي په دې کې پرته نه ده چې په بل قام زور زياتی وکړي او حق ئې وخوري بلکې د دې قام په پيداواري (توليدي) او نوښتي (Creativity) ځواک کې ده چې نه يوازې د خپلې منطقې د قامونو (ولسونو) بلکې د ټول انسانيت په خدمت کې ئې واچوي. هر څومره چې حکومتونه د قامونو د هيلو او ارزښتونو نماينده ګې کوي او قامي يا ولسي ارزښتونه سرکاري ارزښتونه ګڼي هغومره د پر مختګ لړۍ ګړندۍ مخ په وړاندې درومي.
پښتانه له پيړيو راهسې خپل ټاټوبي او وطن ته چې پيدا ايښتي (قدرتی ، فطری) وحدت دی پښتونخوا وايي او پښتونخوا د پښتنو د ټاټوبي ولسي نوم دی. حکومتونو ته هم پکار دي چې ددې خاورې سرکاري نوم هم پښتونخوا کړي که چيرته د خپلو ولسونو (قامونو) نماينده ګې کوي.

د يووالي فلسفه : د يووالي يا وحدت د فلسفي بنسټ په نژدېووالي ولاړ دی که وګورو پښتانه په دوه هيوادونو پاکستان او افغانستان کې اوسيږي نو د افغانستان او پاکستان تر مينځ نژدوالی او ګډ کار پکار دی. دا چې قامي يووالی ډير اړخونه لري نو په مختلفو برخو کې د ګډ کار ډيرې بنې په ولسي او سرکاري سويه سره شته دی چې په اقتصادي، سياسي، کولتوري، ادبي او د ژوند په نورو برخو کې مينځ ته راشي. تر ټولو مهم په اقتصادي او تجارتي برخه کې ګډ کار د تګ راتګ اسانتياوي او پښتنو ته د ډبل تابعت (شهريت) ورکول دي. هر څومره چې د دې دواړو هيوادنو تر مينځ د ژوند په مختلفو برخو کې جوړښتونه يو شانته کيږي هغومره د پښتنو د بيا يووالي لړۍ ګړندۍ کيږي او اسانتياوي مينځ ته راځي. د بيلګې په توګه که د افغانستان او پاکستان د روزنې سيستم (نظام) يو شانته وي نو بري ليکونه به ئې په دې دواړو هيوادونو کې منل کيږي او په دواړو هيوادونو کې به سړي د کار امکانات لري.

اقتصادي اتحاد : په يوه سيمه ايز (منطقوي) اقتصادي اتحاد کې هم د پښتنو د بيا يووالي لړۍ غښتلې کيدلی شي. د اروپا د اتحاد په نمونه د يوه اقتصادي اتحاد لپاره شرايط برابر بريښي ځکه چې د تجارتي لارې په نښتون کې کوم چې په پام کې نيول شوی ده د ترکمنستان څخه د افغانستان او پاکستان په سينه تيريږي ددې درې واړو هيوادونو مفادات (اقتصادي ګټې) شريکې شوي دي او د خپلو اقتصادي ګټو د ژغورنې لپاره د نړۍ د ودې د ګلوباليزيشن (Globalisation) په پړاو کې اقتصادي اتحاد د وخت تقاضا ده. هيڅ هيواد د ګلوباليزيشن (Globalisation) په پړاو کې خپل اقتصادي مفادات ځان ته ژغورلی نه شي اونورو سره اتحاد ته اړ دي. د اروپا اتحاد په ۱۹۵۰ ع کال کې د مئ د مياشتې په نهمه نېټه د اقتصادي مفاداتو له خاطره مينځ ته راغی. د فرانسی او لويديز المان د ډبرو سکرو او فولادو توليد سره يو ځای شو او د يوې ګډې جرګه ګۍ د ادارې لاندې راوستل شو.

د دې نوي تنظيم دروازې نورو اروپايي هيوادونو ته وازې پاتې شوې چې بيا ورسته په ۱۹۵۱ ع کال ايټاليه، هالينډ، بلجيم او لوکسمبورک (Luxemburg) په کې هم شامل شو. (Dahmann,2000) . وروسته بيا د اروپا د اقتصاد تنظيم، د اروپا د اتحاد په تنظيم بدل شو. نن ورځ د اروپا اتحاد مخ په غټيدو دی د ختيځې اروپا هيوادونه ئې غړي کيږي په پولو کې کنترول له منځه تللی او سړی په دې هېڅ نه پوهيږي چې له يوه هيواد څخه بل هيواد ته اوړي، يوازې له ليکنو څخه ئې پته لګيږي چې دا کوم هيواد دی.

دګډو اسعارو (پيسو، ياني روپو) پريکړه شوې چې د ايرو (Euro) په نامه ياديږي او راتلوونکي کال کې به رواج شي. د اروپا لپاره په نوي جوړښت او د يوې اتحادي اروپا په لور په نوي نظم بحثونه کيږي.

د پښتنو د بيا يووالي لړۍ (پروسه) : د پښتنو د بيا يووالي لړۍ په عمل کې د جګړې په وخت کې د افغانستان څخه پاکستان ته د پښتنو په کډې کولو سره پيل شوې ده، يو له بل سره اړيکې پاخه شوي، خپلوي ګانې مينځ ته راغلي او ځينې کډوال پښتانه دوه کوره شوي دي د کډوالو پښتنو نوی کول پاکستان خپل دويم کور ګڼي د پښتنو قامي سياسي مشر او هم د پښتون د پيژند (شناخت) او قامي وحدت د بيا بشپړوالي له پاره اوچت ګامونه اخستلي دي د پښتون د قامي وحدت معمار ننګيالی مشر محمد افضل خان (خان لالا) له باچا خان څخه وروسته د لومړي ځل له پاره د پاکستان په قومي اسمبلۍ (مرکزي پارلمان) کې د پښتونخوا د صوبې نوم ياد کړ، چې د پارلمان د مشر (سپيکر) له خوا پرې اعتراض وشو، چې په دې نامه په پاکستان کې کومه صوبه نشته ، خو محمد افضل خان (خان لالا) دليلونه وړاندې کړل او د پښتونخوا د نوم دفاع ئې وکړه. هسې خو د پښتونخوا د نوم يادول کومه نوې خبره نه ده لکه څنګه مو چې مخکې ويل پښتانه خپل هيواد ته له پېړيو راهيسې پښتونخوا وائې، پښتونخوا د پښتنو د هيواد قامي يا ولسي نوم دی د ادب په ډګر هم له ډيرې مودې راهيسې رواج ؤ، د سياست ډګر ته هم راوتلی و، د سياسي ګوندونو په نومونو کې منل شوي و « پښتونخوا ملي عوامي پارټي» او «د پښتونخوا قامي پارټي» ئې بېلګې دي د پښتنو ټولنيزولسووليز ګوند (پښتون سوشل ډيموکراتيک پارټي) هم د پښتنو وطن او ټاټوبي ته د پښتونخوا لفظ کاروي او د خپروني نوم ئې هم دی. نوی خبره د پاکستان په قومي اسمبلۍ (مرکزي پارلمان) کې د باچا خان نه وروسته د پښتونخوا په نوم د صوبې يادونه وه « حضرت باچا خان بابا د پاکستان په قانون سازې اسمبلې کې دا صوبه هميشه د پښتونخوا په نوم ياده کړې ده » (سيد رحمان، په ښکلا کې ، ۱۹۹۸). محمد افضل خان ، ۱۹۹۴ ع کال کې چې په پاکستان کې د مرکزي (وفاقي) حکومت وزير و د «پښتون قامي وحدت» په نامه د کتاب په شکل کې يو پيغام قام او نړۍ والو ته وړاندې کړ.

محمد افضل خان ، ۱۹۹۴ په پیغام کې پښتنو ته د قامي وحدت لار په ګوته شوې او نړۍ والو ته غږ شوی دی چې په دې لاره کې د پښتنو ملاتړ وکړي. د ستر مشر خان بابا خان عبدالولی خان او درونو مشرانو اجمل خټک ، حاجي غلام احمدبلور، او یو شمیر نورو ننګیالیو مشرانو په هاند او کوشش سره د پښتنو د صوبې (ولایت) په صوبائی اسمبلی کې د پښتونخوا دنوم د ایښودلو قرار داد منظور کړ او په اسمبلې کې موجودو ۷۲ غړو کې یوازې دوو غړو د قرارداد مخالفت وکړ.

د پښتونخوا د نوم قرارداد د « اي اين پي » پارلماني مشري میرمن نسیم ولي خان ، د پټې سپیکر حاجی محمد عدیل ، میا افتخار حسین اود پاکستان پیپلز پارټي یو فعال غړي نجم الدین خان وړاندې کړ « (سلیم راز، ښکلا کې ، ۱۹۹۸).

د پښتونخوا د نوم دا تاریخي پریکړه د پښتون ولس د هیلو او ارزو هنداره ده په تیره بیا د مخالفې ډلې د مشر (د اپوزیشن لیډر) افتاب احمد خان شیرپاو عمل چې د قرارداد په پاس کولو کې ئې مرسته سرته رسولې ده . د پښتون ولس واقعي نماینده ګې نښه ده. خو د نواز شریف حکومت چې د خپل هیواد د قومونو دابادۍ او هیلو خیال ئې نه ساته د پښتنو حق ته چې د نماینده ګانو په پریکړې سره ئې قانوني بڼه غوره کړې او قانوني حق ئې ګرزیدلی دی غاړه کښېنښودله چې د صوبې سرکاري نوم لکه په پاکستان کې د نورو مېشته قومونو په څیر (پنجاب، سند ،بلوچستان) پښتونخوا شي او دانګلیسانو له خوا ایښودل شوي نوم « صوبه سرحد» چې د یوې منطقې د ځانګړي مقام (Status) مانا لري، لیرې کړي.

محمد افضل خان « خان لالا »د قام په خدمت نه ستړی کیږي او دروان دوه زرم کال د نومبر د میاشتې په څوارلسمه او پنځلسمه نېټه ئې په پېښور کې د پښتون/افغان قوم نماینده جرګه راغوښتلې ده . دا تاریخ جوړونکې دوه ورځنۍ جرګه یو ټکی اجنډا لري او هغه دا دی چې « د جرګې نماینده غړي به یوازې په یوه نکته د خپلو خیالاتو څرګندونه وکړي یانې دا چې د یویشتمې پېړۍ (صدۍ) په پیل کې به د قام په حیث د پښتون / افغان مستقبل څه وی» (محمد افضل خان بلنه ، ۲۰۰۰).

د جرګې د نېټې د ټاکلو څخه د مخه په پښتونخوا او بهر کې د پښتنو د قومي، سیاسي مشرانو او روڼ اندو (روشن فکرانو) څخه نظریي غوښتل شوي وې. په ادبي برخه کې د نامتو لیکوال او شاعر لایق زاده لایق د مشرۍ لاندې « د پښتونخوا د پوهنې دیره » چې د لر او بر لیکوالان او پوهان پکې راټول شوي دي ، همدا راز د قام پرسته لیکوالانو سیلم راز، انور زیب خان او نورو هڅې چې د روان دوه زرم عیسوي کال د نومبر د میاشتې په دریمه نېټه ئې عالمي پښتو کنفرانس راغوښتی چې درې ورځې دوام کوي او لر و بر پښتانه لیکوالان او مینه وال پکې برخه اخلي د پښتنو د بیا یووالي (قامي وحدت) په خدمت کې دی.

د دې لپاره چې د پښتنو د بيايووالي (قامي وحدت) لړۍ ګړندۍ مخ په وړاندې لاړه شي دا د هر پښتون دنده او زمه واري ده چې ددې هڅه وکړي چې د افغانستان او پاکستان تر مينځ د ژوند په ټولو برخو کې په ولسي او سرکاري سويه د ګډ کاربڼې مينځ ته راشي او د ګډ کار سمبالښت لپاره د اروپا د پارلمان په نمونه د دواړو هيوادونو د ولسي نماينده ګانو يوه ګډه جرګه ياني ګډ پالمان جوړشي، او د منطقې د نورو هيوادونو لپاره د دروازې خلاصې پريږدي.

په خپل وطن کې له ژبې او کولتور څخه پردي کيدنه

په خپل وطن کې د ژبې او کولتور څخه د پښتنو د پردي کيدلو په باب سمسور افغان پخپل کتاب کې چې «دويمه سقاوي» نوميږي په ۱۹۹۸ عيسوي کال په پېښور ، پښتونخوا کې چاپ شوی دی ليکي چې « دپوهاند عبدالشکور رشاد په وينا» د ملګرو ملتو د يو رقم له مخې په افغانستان کې په سلو کې لس پښتانه فارسيوانان شوي دي ځينو خپلواکو او مستقلو څيړنو هم د ملګرو ملتونو دا احصائيه واقيت ته نژدې ګڼلې ده . په پېښور کې د واک فونډېشن د افغانستان لپاره يوه سروې چې د شپږو کلونو په موده کې ئې کړې ده ښيي چې د افغانستان په ټول نفوس کې له ۷۳، ۶۲ فيصدو پښتنو څخه ۵۵ ٪ خپله ژبه ساتلې او ۷۳ ،۷ فيصده پښتانه فارسيوانان شوي، ياني د پښتنو په سلو کې ۷ ،۱۲ فارسي او په سلو ۳ ،۸۷ پښتو وائي . دا ستم يوازې پر پښتنو نه دی شوي، بلکې پر نورو لږکيو قومونو هم شوی . سمسور افغان بيا د افغانستان قومي او ژبني جوړښت د څرنګوالي په هکله د واک فونډېشن د سروې پايلې (نتيجی) په لاندې ډول انځوروي

ګڼه	قومونه	د ختې پر نسبت دقومونو فيصدي	د ژبې پر نسبت د قومونو فيصدي
۱	پښتون	۷۳، ۶۲	۵۵
۲	تاجک	۳۷، ۱۲	۳۳
۳	هزاره	.. ، ۹	.. ، ..
۴	ازبک	۱۰، ۶	۸۰، ۵
۵	ترکمن	۶۹، ۲	۴، ۱
۶	ايماق	۶۸، ۲	.

(سمسور، افغان: دوهمه سقاوي، پېښور ۱۹۸۸)

له پورتني رقم څخه راپه ګوته کيږي چې په افغانستان کې پښتانه د نورو مېشتو قومونو لکه ازبک او ترکمن په پرتله زيات فارسيوانان شوي دي. حال دا چې پښتانه په افغانستان کې ستر ډيره کې قام دی چې د ټولو او سيدونکو وګړو له نيمايي څخه زيات جوړوي.

دلته دا پوښتنه راپیدا کیږي چي ایا دا د پښتنو نسلي کمزوري ده چي خپله ژبه او کولتور ئې د نورو قامونو په پرتله زیات له لاسه ورکړی دی او که څه نور علتونه شته دی او نسلي کمزوري ئې نه ده. مونږ دا پوښتنه د خپلې څیړنې موضوع ګرزوو.

څیړنه : په دې څیړنه کې مونږ د ژورې ساپوهنې یا د راسپړیدلو د ساپوهنې (Psychoanalyse) د پوهینزې لارې څخه کار اخلو چې د موجوده ربړو او ستونزو علت په تیر وخت کې لټوي نو ځکه مونږ په تیر وخت کې یو شمیر حقایق راپه ګوته کوو. چې زمونږ د پوښتنې له پاره ضروري دي. او دې واقعیت ته پاملرنه کوو چې کولتورونه چې ژبه ئې کره لړ جوړوي د هنر او فن له لارې ځان پراخوي او یو پر بل باندې اغیزه کوي ، خو ښکیلاک خپل بیرته پاتې کولتور د زور له لارې پراخوي. غښتلي ښکیلاکونه دا کار په سیده توګه او کمزوري ښکیلاکونه ئې په نا سیده توګه سرته رسوي.فارسیانو یا ایرانیانو دوه ځلې پښتونخوا ته په ناسیده توګه لاسونه راغځوولي دي.

۱) **دصفویانو د اقتدار په وخت کې** : فارسیانو (ایرانیانو) د صفویانو د اقتدار په وخت کې یو شمیر کسان د ملا ، پیر او صوفي په جامه کې پښتونخوا ته راولیږل چې په جماعتونو ئې چې په هغه وخت کې د روزنې یوازنې مرکزونه وه قبضه وکړه او فارسي ادبیات پنج کتاب ، ګلستان ، بوستان او زلیخا د دیني روزنې برخه وګرځوله حال دا چې په نتیجه کې پښتانه نه یوازې پخپله ژبه «پښتو» د لیک او لوست څخه بې برخې پاتې شو بلکې له دیني زده کړې هم لیرې پاتې شو. په پښتونخوا کې اوس ډیر دا سې قبرونه شته دی چې د نومونو څخه ئې جوتیږي چې ایرانی متصوفین او روحانین دي لکه د کونړ د پشد په کلي کې د «میرهمدان غوث» قبر چې له نوم څخه په داګه معلومیږي چې دا غوث د فارس (ایرن) د همدان دي.

۲) **د احمد شاه بابا د زامنو د بې اتفاقۍ وخت** : ایرانیانو (فارسیانو) د احمد شاه بابا د زامنو د بې اتفاقۍ له امله بیا د دې موقع پیدا کړه چې پښتونخوا ته راشي ګنډاسنګ (Ganda Singh) پدې هکله لیکی: چې « احمد شاه بابا څلور زامن لرل. سلیمان، تیمور، پرویز او سکندر. ده تیمور د خپل ځای نیوونکی په حیث په نامه کړ، خو د ده صدراعظم شاه ولي خان خپل زوم شهزاده سلیمان په قندهار کې د باچا په توګه ولس ته ورووپېژاند. سره له دې هم تیمور په بري سره قندهار ته ننووت او د باچا خول (تاج) ئې پر سر کیښودل شو. شاه ولي خان او د ده شریکان ئې له تیغه تیر شول. د قندهار د خلکو د پاڅون د روحیې په سبب چې د باچا ئې لپاره ئې د سلیمان غوښتنې ملاتړ کاوه ، شاهي دربار او پایتخت کابل ته ولیږدید.

دلته حکومت بیا تنظیم او تر ممکنه حده ئې له دراني قبیلوي مشرانو څخه قدرت واخیست. ده د یوه سدوزي په حیث په سدزویو اعتماد کولی نه شو.

څرنګه چې ده له دوې څخه ځینې هغه مقامونه بیرته اخیستلی نه شول چې پلار ئې د هغوی کورنیو ته په میراثي توګه ورکړي وو ، نو یو شمیر نوي ئې ایجاد کړل او د هغوی یو شمیر ئې ورتبدیل کړل. خپل شخصي ګارډ ئې له اسحق زیو څخه جوړ کړ او د پارسي قزلباشانو څخه ئې د سورو یوه د ولس زره کسیزه اصافي ډله راوستله (ګنډاسنګ، ۱۹۸۷). په دې توګه سره د تیمور شاه د دربار واګې د ایرانیانو (پارسیانو) په لاس کې ورغلې او پښتنو ته چې ایرانیانو ورته افغانان ویل د پښتنو هیواد د افغانستان په نوم شهرت پیدا کړ. خو د دربار په وجود کې د خپلې ژبې او کولتور څخه د افغانانو (پښتنو) د پردی کیدلو لړۍ پیل شوه. دا لړۍ د ظاهر شاه د حکومت په وخت کې تر ټولو لوړ پړاو ته ورسیده او ګړندۍ مخ په وړاندې لاړه. د ظاهر شاه د دربار او حکومت ژبه پارسي وه. حکومت ئې شخصی بڼه لرله که څه هم دده د حکومت په اخرني وخت کې یوه ولسي جرګه (پارلمان) موجود وه خو د ولسي جرګې له مینځه حکومت نه ټاکل کیده او حکومت به د ده له خوا ټاکل کیده.

د ده د باچاهۍ په وخت کې د باچا خان د سولې خوزښت په پښتنو کې بیداري پیدا کړې وه نو ظاهر شاه د پښتنو د تیر ایستلو لپاره د پښتو ټولنې جوړولو ته چې د یو شمیر پښتنو له خوا ئې هڅې پیل شوې وې اجازه ورکړه. پښتو ئې تش په نامه ملي او رسمي ژبه کړه. خو دده دربار ته دننه نه شوه. سرکاري او حکومتي چارې په پارسي چلیدې . د دې لپاره چې پدې واقیعتونو پرده واچوي او ځان له ایرانیانو څخه مستقل وښایي نو د فارسي په ژبه ئې « دري » نوم کیښود .

د ظاهرشاه حکومت په افغانستان کې په پښتنو کې د سر سړی نه پریښوده یا به ئې په کورسیو او چوکیو اخیسته او د خپلې پښتو او کولتور څخه به ئې تیراوه او یا به ئې په مختلفو تورونو سره بندي او یا فراره و او ځوروه. لنډه دا چې پښتانه (افغانان) پخپل وطن افغانستان کې نه یوازې بې واکه و بلکې د نورو قومونو په پرتله د زیات فشار لاندې و. د ظاهرشاه کورنۍ د شخصي نظام د ختمیدلو ورسته د خپلې ژبې او کولتور څخه د پردي کیدلو لړۍ هم ختم شوه او پښتو دربار ته سر دننه کړ. هغه پښتانه چې د خپل کولتور څخه د پردي کیدلو په لاره کې پاتی شو د پیژند په کړکیچ (Reaktive Schizophrenie) اخته شوي دي. دا ډول کسان دوه پیژنده لري چې یو اصلي او بل ئې نقلي دی. دا کړکیچ د دماغ د شلخي کیدلو نه پیل کیږي او بیا ټول سړیتوب ته پراخیږي او سړیتوب (شخصیت) ویشي چې دوه ځانه لري یو اصلي او بل شلخي . چې دواړه یو دبل سره په لانجه کې وي چې پدې نه پوهیږي چې پښتون دی او که نه ، کله ځان پښتون ګڼي کله ځان په نورو نومونو د پښتنو څخه بیلوي.

پایله (نتیجه) : د پورتنیو ټکو په رڼا کې سړی ویلي شي چې په افغانستان کې د نورو قومونو په پرتله د پښتنو د زیات فارسیوان کیدلو علت د دې قام نسلي کمزوري نه ده بلکې د دنني ښکیلاکي مناسباتو محصول دی. په پاکستان کې د مېشته پښتنو سره پرتله هم را په ګوته کوي چې د خپلې ژبې او کولتور څخه پردي کیدنه د پښتنو نسلي کمزوري نه ده.

سره له دې چې پښتانه په پاکستان کې لږه کې دی دغلته هغه پښتانه چې د حکومت سره کار کوي ځیني ئې په پښتو لیکونه پوهیږي ځکه چې په مورنۍ ژبه ئې ښوونځی نه دي ویلې خو پښتو ویلی شي او خپله ژبه او کولتور ئې بیخي له لاسه نه دی ورکړی. د یو شمیر پوهانو د اټکل له مخې په سلو کې لږ تر لږه ۷۰ پښتانه پخپله ژبه له لیک او لوست څخه بې برخې پاتې شوی دي. د دې بې عدالتۍ د مینځه وړلو او د خپلې ژبې او کولتور څخه د پردي کیدلو د مخنیوي لپاره ښه لاره دا ده چې د افغانستان ټول قومونه پخپله خوښه په یوه فدرالي نظام کې چې ډیر ګوندیزه پارلماني ولسولي ولري راغونډ شي او د هیواد په سیاسي ، اقتصادي او کولتوري ژوند کې د خپل شمیر هومره برخه ولري او د نړۍ وال دود سره سم د ډیره کې قام ژبه «پښتو» د هیواد ملي، سرکاري او د روزنې ژبه وي او دنورو قومونو په ژبو دې لومړني امکانات برابر وي.

په پردي وطن کې له خپلې ژبه او کولتور پردي کيدنه

پخپل وطن کې د جګړې له کبله ډير پښتانه د ګاونډی هيوادونو سر بيره ليرې وطنونو ته په تيره بيا لويديزو هيوادونو ته تللي او هلته ديره شوي دي، په پردي وطن کې د خپلې ژبې او کولتور نه د پردي کيدلو امکان شته دی. خو پردي وطن کې د خپلې ژبې او کولتور څخه پردي کيدنه لکه پخپل وطن کې د ښکيلاکې مناسباتو له کبله نه رامينځ ته کيږي، دلته لومړي ډله ايز اخلاقي زه (وجدان) چې د پښتنو د غټې کورنۍ محصول دی د ځانګړي اخلاقي زه (وجدان) چې د لويديز د کوچنۍ کورنۍ محصول دی په مقابله کې راځي او ورو ورو ځانګړی اخلاقي زه په ډله ايز اخلاقي زه (وجدان) غالبيږي او پدې توګه د خپلې ژبې او کولتور څخه د پردي کيدلو لړۍ پيل کيږي هغه کسان چې د پيژند له کړکيچ سره مخاخ دي او شلخي ذهن لري ژر ځانګړي (انفرادي) اخلاقي زه پيدا کوي او په دې توګه د خپل کولتور څخه د پردي کيدلو لړۍ پيل کيږي. په ډله ايز اخلاقي زه (وجدان) د ځانګړی اخلاقي زه غلبه څه اسان کار نه دی خو بيا هم دا له دی پورې اړه لري چې سړی ځانته او که د کورنۍ سره پردي وطن ته کډوال شوی دی، په کوم حالت کې دی او کوم شرايط ورته په پردي هيواد کې د خپلې ژبې او کولتور د ژغورنې لپاره شته دی چې څيړنه ئې مونږ د کتاب د موضوع له ډګر څخه لېرې کوي او له دې کبله ترې تيريږو. خو دومره وايو چې په جرمني کې پښتو ژبه په ښوونځيو کې د درس رسمي ژبه ده خو د پښتنو زده کوونکو شميرډير کم دی نو په په ښوونځي کې درس نه ورکول کيږي خو ازموينه ترې په پښتو کې اخيستل کيږي. زه د لسو کلونو راهيسې د زده کوونکو څخه د جرمني د پوهنې د وزارت په سپارښت د پښتو ازموينه اخلم په جرمني کې هر زده کوونکی مجور دی چې د جرمني ژبې سربيره دوه نورې ژبې زده کړي. بهرنيان کولی شي چې يوه خپله مورنۍ ژبه وټاکي.

RTRE08753 21-AUG-00 04:04

FEATURE-Whatever happened to the lost tribes of Israel?

By Megan Goldin

DIMONA, Israel, Aug 21 (Reuters) - Living in the shadow of Israel's infamous nuclear reactor, Dimona's Black Hebrews are polygamous vegans who believe they are descended from a lost Israelite tribe.

The community of African-Americans which moved to Israel from the United States in 1969 calls its enclave in the Israeli desert town of Dimona, the Kingdom of Yah.

The Black Hebrews say they are the descendants of an ancient Jewish tribe forced into exile in West Africa and taken to the Americas as slaves centuries ago.

Their white-robed spokesman who calls himself Ahmadiel Ben-Yehuda says the songs about Zion and the Jordan River sung by African slaves as they worked in the fields are evidence of their Israelite roots.

Most scholars dismiss the cult's claims as far-fetched and say the proof to support their belief is tenuous at best.

But even if the Black Hebrews' claims are nothing more than fiction, the fact remains that 2,700 years after the 10 tribes of Israel were taken into exile and vanished, the fate of the lost tribes remains one of history's most intriguing mysteries.

ASSYRIANS TOOK THE 10 TRIBES OF ISRAEL INTO CAPTIVITY

In 722 BC Assyrian warriors captured the northern Kingdom of Israel which was home to 10 of the 12 tribes of Israel and took the inhabitants into captivity.

The Bible's Book of Kings records they were exiled "in Halah and in Habor by the river Gozan and in the cities of the Medes".

The other two tribes, Judah and Benjamin, which lived in the southern Israelite Kingdom of Judah, were forced into exile by the Romans centuries later in AD 70. Unlike their northern brothers who were assimilated, these tribes maintained their identity and are the ancestors of modern Jews.

Rabbi Eliyahu Avichail has been hunting for the lost tribes for decades. He has undertaken dangerous journeys to Myanmar (formerly Burma) and other war-torn parts of Asia to pursue the descendants of a people who disappeared almost 3,000 years ago.

"I am looking for Jewish customs and Jewish signs among people who are not Jewish. That's what it says in the Bible," Avichail said.

The Pathans of Afghanistan and Pakistan head the list of the peoples Avichail believes are lost tribes.

Avichail says the Pathans' ancient name is "Bnei Yisrael" or the sons of Israel and many of the clans are named after the 10 lost Israelite tribes like Ruben, Asher, Naftali and Ephraim.

But even more convincing are Pathan customs which mirror ancient Jewish rituals still practiced today.

Like Jews, Avichail says, the Pathans marry under a wedding canopy, light candles on the eve of the Sabbath and wear prayer shawls similar to those used by religious Jews. He says they even circumcise their eight-day-old sons as Jews do.

Avichail believes that after the Assyrian conquests, the tribes scattered along the Silk Road to Kashmir, China, Burma and Thailand. He suspects they may have gone as far as Japan.

"We had in the Bible a very clear tradition that the 10 tribes were exiled to the east of Israel and the prophet Isaiah in the Bible told us they will come back from this direction," Avichail said.

Not content to just study Isaiah's prophesies, Avichail is trying to fulfil them by bringing people he believes to be from the lost tribes back to Judaism and the Holy Land.

THE TRIBE OF MENASHE MAY BE LIVING IN EAST ASIA

One of Avichail's biggest success stories is the Shinlung people from the Myanmar-Indian border who believe they are the Israelite tribe of Menashe. He has already helped around 500 of them move to Israel and convert to Judaism.

According to Shinlung legends they are one of the 10 tribes of Israel that was exiled in China and later expelled to where they live today. They practice sacrifices similar to those in the Bible and celebrate holidays reminiscent of ancient Jewish harvest festivals.

So strongly do they believe they are Jews that some members of "the tribe of Menashe", as they call themselves, have begun to practise Orthodox DJudaism and teach their children Hebrew.

Esther Thangjom moved to Israel and converted to Judaism to fulfil her belief the tribes must return to the Holy Land. Thangjom, who proudly wears a Star of David around her neck, has no doubt that she is descended from the tribe of Menashe.

"As a child every time something was mentioned about Israel my heart would move," she said.

CYNICAL EXPERTS SAY LOST TRIBES ARE LOST FOREVER

Dr Rivka Gonen, an archaeologist and the curator of Jewish ethnography at the Israel Museum in Jerusalem, believes the 10 tribes have disappeared for good.

She says it is inconceivable that people exiled thousands of years ago would have retained any semblance of their Jewish heritage.

Gonen said that even in the Bible it says the 10 tribes were conquered because they were not practicing Jewish customs and worshipped idols. She says there is no reason to expect they kept Jewish rituals in exile when they didn't do it at home.

"Wherever you find a tribe claiming they belong to the 10 lost tribes, you always find the fingerprints of Christian missionaries or romantics who came with the Bible and when they found vague similarities of names and customs, they immediately saw it as proof," Gonen said.

She says the methods used to trace the lost tribes is not at all scientific either anthropologically or linguistically as many languages have words which sound similar and rituals like circumcision are not uniquely Jewish.

Many of the theories border on the absurd, says Gonen, like the British-Israelites who claim the British people are from the 10 tribes or those who say the Danes are from the lost tribe of Dan.

"People are attracted to mysteries of the past and this is one of them because the tribes were exiled and God promised they would return," she said.

REUTERS

(ډاکتر گنډاسنگ : دورانی احمد شاه، کابل ۱۹۸۷).



(ډاکتر کنداسنگ : دورانی احمد شاه ، کابل ۱۹۸۷)

اخستونځي

۱) ارمغان خوشحال : میاسید رسول رسا، یونیورسټي بک ایجنسي ، خېبر بازار ، پېښور ، بې کاله
۲) الکزاندر هما ګایف« مرکه » ویډو فلم ، جرمنی ۱۹۹۴ ع کال
۳) پښتني دودونه : د پښتو ټولنی د ادبیانو د څانګې له خوا ، کابل ۱۹۵۷ ع کال.
۴) خان عبدالولي خان « باچا خان او خدایي خدمتګاري » په څلورو ټوکونو کې ، پېښور (دریم ټوک ۱۹۹۸ کال).
۵) رشتین صدیق الله : « پښتنی لاربښود » .
۶) « ښکلا » مسول مدیر شېرشاه ترخوی ، پېښور ، فروري ۱۹۹۸ ع کال .
۷) ستوری کبیر « د هوښیارتیا تله » خپرونکی ، د پښتونخوا د پوهنې دېره ، پېښور ۲۰۰۰ ع کال
۸) سائل رحمت شاه : « د ښایستونو د پسرلي بادونه » پېښور دوهم چاپ ۱۹۹۵ ع کال
۹) سائل رحمت شاه : « پایکوب » ، د عبدالباري جهاني ، د شعرونو د مجموعې کتاب ته سریزه پېښور ۱۹۹۳ ع کال.
۱۰) سمسور افغان : « دویمه سقاوی » چاپ پېښور پښتونخوا ۱۹۹۸ کال : خپرونکی : د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه جرمني .
۱۱) ظفر کاکا خیل سید بهادرشاه : «پښتانه د تاریخ په رڼا کې » یونیورسټي بک ایجنسي ، خیبر بازار ، پېښور ۱۹۶۵ ع کال.
۱۲) ظریف پوهاند ډاکتر ګل جانان : « پښتو میخمري ډیبونه ۲۵۰۰ کاله پخوا» چاپ ، رحمت پرنټینګ پریس پېښور ۱۹۹۴ ع کال .
۱۳) عبدالغفار . « زما ژوند او مبارزه » کابل دولتی مطبعه ۱۹۸۳ ع کال
۱۴) عبدالحمید مومند دیوان ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز ، پښتو ټولنه کابل ۱۹۸۳ ع کال.
۱۵) قاضي عطا الله خان : « د پښتنو تاریخ » جلد اول ، خپرونکی : د مروتو ادبي جرګه ، سرای نورنګ ۱۹۴۷ ع کال.
۱۶) ډاکتر ګنداسنګ :« درانی احمد شاه » مترجم ، سر محقق مرستیال نصرالله سوبمن منګل ، د افغانسان د علومو اکاډمي ۱۹۸۷ ع کال.
۱۷) « د ملنګ جان خوږې نغمې » پښتو ټولنه ، کابل ۱۹۹۵ ع کال.
۱۸ محمد ګل خان مومند : مرتب ، همېش خلیل یونیورسټي بک ایجنسي ، خیبر بازار ، پېښور ۱۹۹۵ ع کال .
۱۹ محمد افضل خان : « پښتون قامي وحدت » خپرونکي: د پښتونخوا پبلیکیشنر ، پېښور ، ۱۹۹۴ ع کال .

20 . Damann, K : Schumnan-Plan Akt. Stichwort, DW .09. Mai.200
21. Duden Lexikon, im Dudenverlag, Mannheim ,1962.
22. Engel, Friedrich: Der Ursprung der Familie, des Privateigentums und des Staats, Dietz Verlag Berlin 1974:
23. Freud, S: Das unheimliche, aufsetze zur Literatur Vgl . fisher 1963.
24.Freud, S Gesammelte Werke Bd 13 Vgl. Fisher 1868.
25. Goldin, M: Feature-what ever happened to the lost Tribes of Israel Reuter 21 Aug. 2000
26. Graser Luitgard Berm: Familie und Tieren Ernst Reinhardt Verlag München/Basel 1970.
27. Klimburg. Afghanistan Wien 1966.
28. Koch , K : Der Baum Test Vlg. Hans uber Bern und Stuttgart 1957.
29 Krause, W: Afghanistan Tuebingen und Basel 1972.
30. Mayers Neues Lexikon, Mannheim / Wien, Zuerich, 1980 Bd7.
31. MC. Grath, Josef, E: Social psychology , London. New York, Sydney. Toronto , 1970.
32 Mepin , D: in Jeppessen, Helle: Ausländische Autoren in NRW Zeitfunk/ Seite 3, DW 30 Juni 2000.
33 Merz, F. Stelz . 1 : Einführung in die Erbpsychologie Kohlhammer, Stuttgart 1970.
34 Oerter, Rolf: Moderne Entwicklungspsychologie , Verlag Ludwig Auer Donauworth 1969.
35 . Rohracher H : Einführung in die Psychologie Wien. Insbruech 1965, S.324 – 331.
36 Salber W: Die Entwicklung der Sprache in Handbuch der Psychologie Bd 3. Verl Hogrefe, Göttingen 1958.
37. Stern , W Psychologie der Frühen Kindheit Bis sechstem Lebensjahr, Leipzig 1927.
38 . Teplow B. M.: Lehrbuch der Psychologie Frankfurt 1972.

خوښنه او مننه

له ښاغلي نسیم خان ستوری څخه چې په پوره تلوار سره ئې ددې کتاب مسوده په کمپوټر لیکلې او د ښاغلی امیر کروړ ستوری څخه چې ددې کتاب لګښت ئې په غاړه اخستلی دی همدغسې د پښتو د قامي ادبي جرګې د مشر عبدالنصیر نصیر او د لوی مونشی عزیز سرشار څخه چې ددې کتاب په سمبالښت کې ئې مرسته سرته رسولې ده د زړه له کومې مننه کوم.

څرنګه چې په پښتو کې د ساپوهانو شمېر کم دی نو ما په دې کتاب کې ددې هڅه کړې ده چې په داسي ژبه ئې ولیکم چې غېري ساپوهان پرې هم پوه شي یانې ساپوهنه د غېرې ساپوهانو لپاره. په دې برخه کې محمد شرین ګردیوال او هدایت الله خان بنګش څخه ډیره خوښنه چې دا کتاب ئې لوستلې او ماته ئې ډاډ راکړی چې غیري سا پوهان پرې هم پوهېږي .

په پای کې د ختیځ د بیا رغونې د ادارې (کور) له مشر ډاکتر محمد فرید برکز او د کور د خپرونو د څانګې له مسؤل ښاغلي نعمت الله رسولي، د پښتونخوا د پوهنې د یرې د مشر نامتو لیکوال ، شاعر ، ادیب او افسانه نګار لایق زاده لایق ، عبدالصیر بیدار ، ننګلیالي میرداد خیل څخه ډیره خوښنه کوم چې ددې کتاب د چاپ اوخپریدو کار ئې په ښېړه سرته رسولی دی .

ډوکتور کبیر ستوری

جرمني ۲۰۰۰ / ۱۰ / ۱۵

اعزاز

د نړۍ په مخ چې له کومې ورځې نه انساني ژوند پيل شوی دی له هغې ورځې نه واخله تر ننه پورې د قامونو تر مينځه د تړون او رابطې له پاره ټولې لارې چارې لټولی شي. په دغه ټولو لارو چارو کې ژبې ته بنيادي حيثيت حاصل دی. ژبه د يو قام د يو ولس په پيژندګلوی کې ډېر اهم او اساسي رول لري د ډاکټر کبير ستوری دغه کتاب د ژبې په حواله ډير ګټور او نفسياتي بحثونه لري . دا د ډاکټر کبير ستوری اغزاز دی چې په يو وخت يو اړخ ته د شعر په ژبه د اولس په نبضونو د ګوتو اينودو په هنر پوهيږي او بل اړخ ته د ساه پوهنې د ماهر په حيث د ژوند د ټولو کشالو په رازونو پوهه دی. « د پښتونخوا د پوهنې ديره » دا اعزاز لري چې ددې نه وړاندې ئې د ډاکتر کبير ستوری د ساه پوهنې يو بل ګټور کتاب « د هوښيارتيا تله » چاپ ته سپارلې دی . دا د ساه پوهنې د علم په حواله يو ډير ګټور شعوري کوښښ دی. د پوهنې ديرې تر اوسه پورې د ولس شعري او نثري کتابونه د پښتو په ناوې پيرزو کړي دي . په راتلونکې وخت کې د پوهنې ديره د پښتو ادب د خدمت د نور فعاليت له پاره د پروګرامونو جوړولو اراده لري . څو د ژبې د خدمت د ټولو جذباتو عملي قدر وکړی شي . او بيا په خصوصي توګه د ډاکتر کبير ستوری په داسې موضوعاتو ليکنې چاپ ته سپارل د پوهنې د ديرې له پاره ډيره د وياړ خبره ده . دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی دانساني ژوند د يو داسې نفسياتي اړخ احاطه کوي کوم چې شعوري او لا شعوري طور خپل ارزښت او اهميت د ژوند د هر راتلونکې نوې ورځې سره اشنا کوي . دېره باور لري چې د ډاکتر کبير ستوری دغه کوښښ به نفسياتي پوهانو ته د لټون نوې لارې په ګوته کړي

په درنښت

لايق زاده لايق

د پښتونخوا د پوهنې ديره

راحت اباد ـــ   پېښور



کبیر ستوری د ساینس پوهنو د کتور (Dr rer. Nat) دیپلوم ســـــاپوه (Diplom Psychology) په هل پښتون په تبـر میرداد خېل چې د پښتنو د یوســـــفزو د پرکنې پورې اړه لري. ستوری دلعل محمد خان زوی او د بري پښتونخوا د کونړ د تنر په کلي کې په ۱۷/۱/۱۳۲۱ هل کال (۰۶/۰۴/۱۹۴۲ ع) زېږېدلی دی.

ده خپله لومړنۍ زده کړه د خـاص کونـړ په لومړني ښوونـځي او په کابــل کې د رحـــمان بابـــا په لیســـه کې او خپله لوړه زده کړه د جرمني د فرانکفورت، کولن او د ماربـــــورګ په پوهنتونونو کې د ســـــاپوهنې (Psychology) په څانګه کې، چې فلسـفه (Philosophy) سیاسي پوهنه (Pol.Science) او ټولنپوهنه (Socialogy) ورسره مل وه، سرته رسـولې ده.

ســـتوری د نړۍ د ســـاپوهانو په ډله کې ولاړ دی او د ۱۹۷۵ ع کال راهیســـــې د کړنې د ســـــاپوهنې د نړیوالې ټولنې (International Association of Applied Psychology) غړی دی. ستوری د پښتون سوشل ډیموکراټیك پارټۍ (PSDP) مشر او ددې پارټۍ د بنسټ ایښودونکو مخکښانو څخه دی.

او د شـــــاعرۍ په نړۍ کې تر ټولو زیات د پښتو د ادب د پلار اجمل خټك نه یې الهام اخیســـتلی دی. د پښتنو د یووالي، خپلواکۍ او ســـوکالۍ د پاره دده د باچا خان نظریو ژوند وربښلی دی.